# د والدینو مسؤلیتونه

## د مېریلنډ د طرزالعملونو

## د خوندیتوب خبرتیا

*د نویو زیږېدلیو او هغو ماشومانو لپاره ابتدایه روزنه چې خاپوړې کوي*

*له ښوونځي مخکې ځانګړې زده کړې*

*او عادي*

*ځانګړې زده کړې*



بیاکتل شوی جولای 2021

**د مېریلنډ د ښوونې ریاست**

**د لومړنیو روزنو څانګه/د ځانګړیو زده کړو خدمات**

# د والدينتوب حقوق
# د مېريلنډ د طرزالعملونو د خونديتوب خبرتيا
# نوي زېږېدلي او د خاپوړو ماشومان، له ښوونځي مخکې ماشومان، ځانګړې زده کړې

جنوري 2021

2013 © د مېريلنډ د ښوونې رياست

دا اعلاميه د امريکا متحده ايالاتو د ښوونې وزارت، د IDEA د C برخې #H181A120124 ګنې تضمين، او د IDEA د B برخې #H027A012035A ګنې تضمين، په مالي مرسته د مېريلنډ د ښوونې رياست (MSDE) او د ابتدايه روزنې د ځانګې/ځانګړې زده کړو د خدماتو لخوا چمتو او توليد شوې چې د 2013 کال د چاپ حق يې د مېريلنډ د ښوونې رياست سره دی. لوستونکيو ته اجازه ورکړل شې او تشويقېږي ترڅو دغه سند کاپي او شريک کړي، خو د امتياز حق بايد د مېريلنډ د ښوونې رياست د ابتدايه روزنې ځانګې/د ځانګړيو زده کړو د خدماتو ځانګې ته ورکړي. ټول حقوق خوندي دي. د مېريلنډ د ښوونې رياست له نژادي، رنګي، جنسي، عمري، قومي، ديني، معلوليتي يا مدني توپير پرته د افرادو په استخدام او پروګرامونو ته د لاسرسي په برخه کې چلند کوي. د ښوونې رياست د پالیسۍ په اړه د پوښتنې لپاره، مهرباني وکړئ د جنسيتي برابرۍ او شکايتونو د ځانګې، د نوم ليکنې په برخه کې د ايالتي استازي د مرستيال د دفتر او د مېريلنډ د ښوونې د رياست سره چې پته يې په لاندې ډول ده په اړيکه کې شئ: -200 West Baltimore Street, 6th floor, Baltimore, MD 21201 2595, 410-767- 0433, Fax 410-767-0431, www.MarylandPublicSchools.org. د امريکايي معلولينو د قانون (ADA) مطابق، دغه سند د غوښتنې پرمهال په مختلفو فارمټونو کې د لاسرسي وړ دی. د مېريلنډ د ښوونې رياست د ابتدايه روزنې د ځانګې/د ځانګړيو زده کړو د خدماتو سره د (410) 767-7770 شمېرې له لارې خبرې او يا هم د 1571-333 (410) له فکس وکړئ.

**Mohammed Choudhury/ںVb کارښنۍ W .**

ۯŇذ/رونکیÆ̈ɆĐŤکاجليښنW ايلی. ابخک.خر ŰĚلیونځVē

**Clarence C. Crawford/چارېنس سي کارفورډ**

رئيس

د ښوونې په برخه کې د ايالتي حکومت پلاوی

**Carol A. Williamson, Ed.D.کارول اي ويليمسن**

ارشد علمي مشاور

**Marcella E. Franczkowski, M.S./مارسېلا اي**

د ايالتي استازي مرستيال

د ابتدائيه روزنې ځانګه/د ځانګړيو زده کړو خدمات

**Larry Hogan/هري هوګان**

والي

د مېريلنډ د ښوونې رياست

د ابتدائيه روزنې ځانګې/د ځانګړيو زده کړو خدمات

پته: 200 West Baltimore Street

Baltimore, Maryland 21201

410-767-7770 (phone)

410-333-1571 (fax)

http://www.marylandpublicschools.org

دغه سند په لاندينيو ژبو کې د مېريلنډ د ښوونې رياست، د ابتدائيه روزنې د ځانګې او ځانګړيو زده کړو د خدماتوله لارې ترلاسه کېدی شي: امهاري، عربي، بنګالي، بورمېس، چينايي، دري)، فرانسوي، جورجيايي، هايتاني، ايراني، هندي، جاپاني، کوريايي، نيپالي، پښتو، پرتګالي، روسي، اسپانوي، تګالوګي، ترکي، اردواو ويتنامي.

می ، 2021 بیاکتل شوی

جولای 1، 2021 کې د اجرا وړ

# محتويات


**د عدالت غوښتنې د خونديتوب په اړه خبرتيا ........ 1**
**مورنۍ ژبه ........ 2**
والدين حق لري چې معلومات په خپله مورنۍ ژبه کې ترلاسه کړي. ........ 2
**بريښناليک ........ 2**
**په کتبي ډول له مخکي خبرتيا ........ 2**
خبرتيا ........ 2
د کبتي خبرداري محتويات ........ 3
**رضايت ........ 4**
د والدينو رضايت: ........ 4
IEP – د B برخه ........ 4
د لومړنۍ ارزونې لپاره د والدينو رضايت: ........ 4
د ايالتي ځانګو د لومړنۍ ارزونې لپاره ځانګړي قوانين ........ 5
د خدماتو لپاره د والدينو رضايت ........ 5
د خدماتو لپاره له رضايت څخه د والدينو انصراف ........ 6
يوازې د IEP ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره د بيا ارزونې په موخه د والدينو رضايت ........ 6
د والدينو د رضايت ترلاسه کولو لپاره د منطقي اقداماتو سجل کول: ........ 6
د رضايت اړنده نور اړين موارد ........ 7
د IFSP -C برخه ........ 8
د IFSP له لارې د خدماتو د ترلاسه کولو لپاره د والدينو رضايت: ........ 8
همدارنګه والدين حق لري چې د خدماتو ترلاسه کول رد کړي: ........ 8
**د اضافي ارزونو لپاره د والدينو رضايت: ........ 8**
**خپلواکه تعليمي ارزونه ........ 8**
تعريفات: ........ 9
د عمومي استازولۍ معيارونه: ........ 9
د عامه مصارفو له لارې د ارزونې په برخه کې د والدينو حقوق: ........ 9
د والدينو لخوا اوليه ارزونه: ........ 10
د يوې داسې ارزونې لپاره غوښتنه چې بايد د اداري حقوقو د يوه قاضي (ALJ) لخوا ترسره شي: ........ 10
**رضاعي والدين ........ 10**
د رضاعي والدينو لپاره معيارونه: ........ 11
**د معلوماتو محرميت ........ 11**
تعريفات: ........ 12
محافظتونه: ........ 12
رضايت ........ 13
د لاسرسي حقوق: ........ 14
د لاسرسي ثبت: ........ 14
د والدينو په غوښتنه د سوابقو اصلاح: ........ 15
د معلوماتو د له منځه وړلو لپاره طرزالعملونه: ........ 15
د ماشومانو حقونه: ........ 16
**د انظباط اړونده معلومات ........ 16**
**د معلوليت لرونکو ماشومانو لپاره انظباطي امور ........ 16**
تعريفونه: ........ 16
د ښوونځي د کارکوونکو صلاحيتونه: ........ 17
خدمتونه: ........ 18
د پريکړې څرګندونه ........ 18
ځانګړي شرايط: ........ 19
د ځای پرځای کولو بدلون: ........ 20
د انضباطي عمل غوښتنه: ........ 20
ماشوم لاهم د غوره کيدو وړ نه دی ټاکل شوی ........ 21
د قانون پلي کوني او قضايي چارواکو لخوا راجع کول او عمل ........ 22
**په عامه لګښت په خصوصي ښوونځيو کې د ماشومانو لپاره د والدېنو سره اړوند يو طرفه ليږد ........ 22**
د تادياتو محدوديت: ........ 23

**د والدينو د مسؤليتونو انتقال ........ 23**
**د اختلافاتو حل ........ 24**
منځګريتوب ........ 25
د مينځګړيتوب هڅولو لپاره ناسته: ........ 26
د ايالتي شکايت او د ټاکلي قانوني شکايتونو تر منځ توپير: ........ 26
ايالتي شکايت ........ 26
د ايالتي شکايتونو حلول: ........ 28
د يو ايالتي شکايت حلول چې د استماع قانون پروسي يوه موضوع وي: ........ 28
قانوني شکايت ........ 28
د قانوني پروسي د شکايتونو (محتوا) مينځپانګه: ........ 29
د اطلاع ورکولو بسيا: ........ 30
د ماشومانو حالت د پروسي په جريان کې: ........ 31
د ستونزو د حل پروسه: ........ 31
د 30 کليز ورځو دستنزو د حل په موده کې سمون: ........ 32
د ستونزو د هواره ولو د جوړجاړی هوکړه ليک: ........ 32
د قانوني پروسی استماع: ........ 32
د اداری قانون قاضی (ALJ): ........ 33
د قانوني پروسی شکايت موضوع: ........ 33
د ويناوو د استماع حقوق: ........ 33
د اضافي معلوماتو افشا کول: ........ 33
د والدين حقوق: ........ 34
د ويناوو د استماع پريکړې: ........ 34
بيل قانوني پروسی شکايت: ........ 34
د استماع مهال ويش او اسانتياوي: ........ 34
ګړندي شوي قانوني پروسي د شکايت استماع (يوازی IEP ): ........ 35
د استماع پريکړې: ........ 35
د استماع په اړه د پريکړې نهايی کول: ........ 35
استيناف: ........ 35
**د وکيل حق الزحمه ........ 36**
**د IDEA د شخړو د حل پروسي د پرتلي چارټ ........ 38**

## ضمیمه: د IDEA د شخړو هوارولو پروسې د پرتله کولو چارټ

# د عدالت غوښتنې د خونديتوب په اړه خبرتيا

**34 C.F.R. § 300.504 and § 303.421 and § 303.404**

**د پلي کېدو په صورت کې، د طرزالعملونو د خونديتوب په خبرتيا کې په مورنۍ ژبه په آسانه او مشرح توګه د والدينتوب حقوق تشريح شوي دي. د طرزالعملونو د حفاظت خبرتيا د معلوليت لرونکو افرادو لپاره د فدرالي قوانينو مطابق په ټولو معلولو ماشومانو اوکورنيو د پلي کېدو وړ ده.**

په دغه سند کې شامل خونديتوبونه د معلوليت لرونکو اشخاصو لپاره د فدرال اداري (IDEA) د 20 U.S.C. §1400 *et seq* *قانون*، د فدرال اداري د معلوليت لرونکو اشخاصو د تعليم د برخو (IEP) د 34 C.F.R. § 300.1 *et. seq* او 34 C.F.R. (IFSP) § 303.1 *et. seq.* کودونو، د مېريلنډ د قوانينو يا COMAR: COMAR 13A.05.01، COMAR 13A.08.03او COMAR 13A.13.01 (CFR)، لخوا چمتو شوي دي. هره عمومي استازولي بايد د طرزالعملونو هغه خونديتوبونه رمنځ ته، مراقبت او تطبيق کړي چې د IDEA د اړتياو مطابق وي. که چېرې لازمه وي، د دغو خبرداريو له مخې به د B برخې لپاره د IEP او د C برخې لپاره د IFSP په ښودلو سره دا په ګوته کېږي چې آيا د IDEA د B يا C برخې د تطبيق وړ دي که څنګه.
د هغو ماشومانو او کورنيو لپاره چې د IFSP له لارې خدمات ترلاسه کوي، والدين د دې لپاره دي چې د طرزالعملونو د خونديتوب يوه کاپي ترلاسه کړي:

- د ابتدائيه روزنې د خدماتو د چمتوکوونکي لخوا وړانديز يا رد چې له مخې يې د هوئيت تثبيت يا بدلون، ارزونه، يا د ماشوم استوګنځی، او يا هم ماشوم او د هغه کورنۍ ته د ابتدائيه روزنې د خدماتو چمتوکونه ترسره کېږي په ګډون، د کتبي خبرداري رامنځ ته کول;
- کله چې د C برخې مطابق ماشوم د ابتدائيه روزنې د خدماتو لپاره راجع کېږي; يا هم
- هغه مهال چې د ابتدائيه روزنې لپاره رضايت اخيستل کېږي، د ايالتي تاديات د سيستم د يوې کاپي سره يو ځای راجع کېږي.

د هغو ماشومانو لپاره چې خدمات د IEP له لارې ترلاسه کوي، والدين د دې لپاره دي چې د هغې کاپي سربېره چې د عمومي استازوليو لخوا والدينو ته ورکول کېږي، په کال کې يو ځل د طرزالعملونو د خونديتابه اسنادو کاپي هم ترلاسه کړي.

- د اساسي مراجعو يا د ارزونې لپاره د والدينو د غوښتنې په صورت کې;
- د تعليمي کال په جريان کې د ايالتي حکومت لخوا د لومړني شکايت له ترلاسه کولو وروسته;
- د تعليمي کال په جريان کې د قانوني مراحلو په اړه د لومړني شکايت له ترلاسه کولو وروسته;
- د والدينو د غوښتنې او انظباطي اقدام په اړه د پرېکړې په صورت کې؛ او
- د والدينو په غوښتنه

د وېبپاڼې د موجوديت په صورت کې، عمومي استازولي ښايي د طرزالعملونو د خونديتوب په اړه د خبرتيا موجوده کاپي په خپله وېبپاڼه کې واچوي.

د طرزالعملونو د خونديتوب په اسنادو کې په صريحو الفاظو سره د والدينو حقونه د هغې په خپله ژبه کې بيانېږي، مګر دا چې د دغه کار د ترسره کولو لپاره قانوني موانع موجوده وي. که چېرې مورنۍ ژبه يا د عامه اړيکو نور ډولونه د والدينو لپاره په کتبي ډول نه وي، نو عمومي استازولي بايد د په شفاهي ډول د طرزالعملونو د خونديتوبونو اړونده اسنادو د ژباړلو لپاره ګام پورته کړي، يا په بله مانا د والدينو په مورنۍ ژبه يا د عامه اړيکو د نورو ډولونو په شکل. عمومي استازولي بايد کتبي اسناد وساتي ترڅو د خبرتيا اړونده د ژباړې اسناد سجل او والدين د طرزالعملونو د خونديتوب په محتوی باندې پوه شي.

## مورنۍ ژبه

**IFSPLEP او LEP**

**34 C.F.R. § 300.612, § 300.29, § 303.421, and § 303.25**

# والدین حق لري چې معلومات په خپله مورنۍ ژبه کې ترلاسه کړي.

مورنۍ ژبه، کله چې د هغو اشخاصو سره د مفاهمې په برخه کې استفاده کېږي چې په انګلیسي ژبه کې محدود مهارت لري، په لاندې مانا ده:

- کله چې په نورمال ډول د شخص لخوا استفاده کېږي یا د ماشوم په دوسیه کې کارول کېږي او یا هم د ماشوم د والدینو لخوا کارول کېږي؛
- په ټولو هغو مواردو کې چې په مستقیم ډول په ماشوم پورې اړه لري (د ماشوم د ارزونې په ګډون)، هغه ژبه چې په کور یا تعلیمي محیط کې په نورمال ډول ماشوم ورباندې خبرې کوي.

د یوه کاڼه یا ړانده شخص لپاره، یا د هغه شخص لپاره چې لیکل نه شي کولای، د افهام او تفهیم ژبه هغه ګڼل کېږي له کومې چې هغوی په نورمال ډول استفاده کوي (لکه د اشارو ژبه، برایل یا شفاهي ارتباطات).

ښايي والدین غوښتنه وکړي چې د هغوی د ماشومانو بشپړ د IFSP یا IEP اسناد دې د هغوی د والدینو په مورنۍ ژبه وژباړل شي. که چېرې په سیمه ئیز ښوونځي کې د شته زده کوونکو له ډلې تر (1%) ډېر یې د والدینو په مورنۍ ژبه خبرې کوي، نو د ښوونځي ی‌و اړونده مسؤل چارواکی به د والدینو د غوښتنلیک له نېټې وروسته په 30 ورځ کې د اړونده اسنادو ژباړه په مورنۍ ژبه چمتو کوي.

## برېښنالیک

**IFSP او IEP**

**34 C.F.R. § 300.500**

**که چېرې دغه انتخاب موجود وي ښايي والدین وغواړي چې معلومات د برېښنالیک له لارې ترلاسه کړي.** که چېرې د عمومي استازولۍ لخوا والدینو ته دا انتخاب ورکړل شي چې معلومات د برېښنالیک له لارې ترلاسه کړي، ښايي یو له والدینو لاندې مواردو غوره کړي ترڅو د برېښنالیک له لارې ورته واستول شي:

- په کتبي ډول له مخکې خبرتیا؛
- د طرزالعملونو د خوندیتوب په اړه خبرتیا؛ او
- د قانوني مراحلو د غوښتنې اړونده خبرتیاوې.

## په کتبي ډول له مخکې خبرتیا

**IFSP او IEP**

**34 C.F.R. §§ 300.503 and 303.421**

**والدین حق لري چې د هغوی د ماشومانو د ابتدائیه رزونېزو خدماتو یا ځانګړیو زده کړو او اړونده خدماتو په اړه د عمومي استازولیو لخوا د اجرآتو په اړه معلومات ترلاسه کړي.**

# خبرتیا

عمومي استازولي باید له وړاندیزونو، یا مستردادتو مخکې والدینو ته په یوه مناسب وخت کې په لیکلي ډول خبرتیا ورکړي ترڅو لاندې موارد پیل یا بدل کړي:

- پېژندګلوي/معرفت؛

- ارزونه
- تعلیمي پروګرام;
- د ماشوم لپاره تعلیمي استګنځای
- ماشوم ته د مناسبو عامه وړیا زده کړو چمتو کول (FAPE)، یا
- د یوه IFSP له طریقه ماشوم او د هغه والدینو ته د ابتدائیه روزنیزو خدماتو چمتو کول، او یا هم
- د یوه IFSP له طریقه ماشوم ته د ځانګړیو زده کړو او اړونده خدماتو چمتو کول.

کله چې کتبي خبرداری د یوه داسې اقدام له امله وي چې د والدینو رضایت ته اړتیا لري، ښایي عمومي استازولي په عین وخت کې یو کتبي اعلان وکړي.

## د کبتي خبرداري محتويات

د هغو ماشومانو او کورنیو لپاره چې د IFSP له طریقه خدمات ترلاسه کوي، کتبي خبرداری باید لاندې خصوصیات ولي:

- o د هغه اقدام تشریح وکړي چې ښایي وړاندیز یا رد یې وشي;
- o د ترسره کېدونکي اقدام لاملونه تشریح کړي: او
- o د طرزالعملونو خوندیتوب پکې ذکر شوی وي.

د هغو ماشومانو او کورنیو لپاره چې د IEP له طریقه خدمات ترلاسه کوي، کتبي خبرداری باید لاندې خصوصیات ولي:

- د هغو اقداماتوتشریح وکړي چې عمومي استازولي یې وړاندیز یا رد کوي;
- دا تشریح کړي چې عمومي استازولي ولې د اقدام ترسره کولو په موخه وړاندیز تائید یا ردوي;
- د هرې هغې ارزونې، شننې، ثبت یا سجل او راپور تشریح وکړي چې عمومي استازولي یې د اقداماتو د وړاندیز کولو یا ردولو په هکله د پرېکړې په برخه کې استفاده کوي;
- د داسې یوې جملې درلودونکې وي چې له مخې یې په IDEA کې د طرزالعملونو د خوندیتوب د قانون مطابق د والدینو حفاظت کېږي;
- والدینو ته وښئ چې که چېرې د عمومي استازولۍ لخوا وړاندیز شوی یا رد شوی اقدام د ارزونې لپاره یوه اساسي حل لاره نه وي، څنګه کولای شي د طرزالعملونو د خوندیتوب په اړه تشریحات ترلاسه کړي;
- د والدینو لپاره د داسې معلوماتو دلودونکی وي چې وکولای شي د IDEA په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه اړیکه ونیسي;
- ټول هغه انتخابونه شرح کړي چې د ماشوم د ځانګړیو زده کړو د پروګرام د ټیم لخوا په پام کې نیول شوي، او همدارنګه د انتخابونو د رد لاملونه پکې بیان شوي وي; او
- د نورو هغو لاملونو تشریح پکې شوې وي چې ولې د عمومي استازولۍ لخوا اقدامات وړاندیز یا رد شوي دي.

**رضايت**
**IFSP او IEP**
**34 C.F.R. § 300.300 and 34 C.F.R. § 303.420**

## د والدینو رضايت:

عمومي استازولي باید د والدینتوب اقرار ترلاسه کړي ترڅو په دواړو برخو کې یعنې د ابتدائیه روزنې، ځانګړیو زده کړو او اړونده خدماتو څخه مخکې او وروسته، د ماشوم ارزونه وشي. والدین حق لري چې په هر وخت کې خپل رضايت بېرته واخلي. د ارزونې لپاره د رضايت په برخه کې ځينې استثنآت شتون لري.

رضايت پدې مانا دی چې ګویا والدین:

- په خپله مورنۍ ژبه یا د افهام او تفهیم په نورو طریقو کې د ټولو هغو مواردو په اړه معلومات لري چې په رضايت پورې تړاو لري;
- پوهېږي او په کتبي ډول موافقه کوي چې خپل رضايت وړاندې کړي، او همدارنګه پدې پوهېږي چې رضايت دغه فعالیتونه تشریح کوي او هغه سوابق لېست کوي چې په راتلونکې کې به خپرېږي او یو چا ته به راجع کېږي; اوپدې پوهېږي چې رضايت د هغوی په خپله خوښه دی او کولای شي په هر وخت کې یې بېرته واخلي.

کله چې والدین خپل رضايت بېرته اخلي، نو پدې سره هغه اقدام نه فسخ کېږي چې د عمومي استازولی لخوا د رضايت د ترلاسه کولو او له انصراف مخکې نېټو ترمنځ ترسره شوی وي.

که چېرې والدین د ځانګړیو زده کړو او خدماتو لپاره په داسې حال کې چې ماشوم ته په لومړیو کې ځانګړې ښوونه او اړونده خدمات وړاندې شوي وي خپل رضايت په لیکلې بڼه فسخه کوي، نو عمومي استازولي دې ته اړ نه ده چې د ماشوم د ځانګړو زده کړو او اړونده خدماتو د سوابقو د حذف په موخه د رضايت د بېرته اخیستو له امله د ماشوم د زده کړو سوابق تعدیل کړي.

## IEP – د B برخه

## د لومړنۍ ارزونې لپاره د والدینو رضايت:

عمومي استازولي باید د ماشوم په اړه د لومړنۍ ارزونې له تطبیق مخکې د والدینو رضايت ترلاسه کړي ترڅو و پتېږي چې ماشوم د لومړي ځال لپاره د ځانګړیو زده کړو او اړونده خدماتو لپاره له وخت مخکې او وروسته په شرائطو برابر دی که څنګه.[1] مخکې له دې چې عمومي استازولي وکولای شي د ځانګړیو زده کړو او اړونده خدماتو لپاره په شرائطو د برابرېدو په موخه لومړنۍ ارزونه په لاره واچوي، باید لاندې اقدامات ترسره کړي:

- د وړاندیز شوي اقدام په اړه والدینو ته د وار له مخکې کتبي خبرتیا چمتو کول; او
- د ابتدائي ارزونې له تطبیق مخکې له والدینو څخه د منطقي رضايت ترلاسه کول; او
- والدینو ته باید له مخکې کتبي خبرداري سربېره د طرزالعملونو د خوندیتوب په اړه د خبرداري یوه کاپي چمتو کړي.

[1] 34 CFR § 300.300(a).

عمومي استازولي باید د لومړنۍ ارزونې په برخه کې د رضایت د ترلاسه کولو لپاره عقلاني ګامونه اوچت کړي ترڅو جوته کړي چې آیا د ماشوم معلولیت د دې ایجاب کوي چې ځانګړې زده او اړونده خدمات ترلاسه کړي. که چېرې د ماشوم والدین په دولتي ښوونځیو شمولیت ولري او یا هم په عامه دولتي ښوونځیو کې د شمولیت په لټه کې وي او یاد ښوونځي نه غواړي د ابتدایي ارزونې لپاره رضایت وښيي، او یا هم والدین د رضایت په چمتو کولو کې پاتې راځي، نو عمومي استازولي کولای شي، خو اړ نه ده، ترڅو د طرزالعملونو د خوندیتوب نه په استفادې سره چې دلته یې په اړه ډېر بحث وشو، لکه منځګړیتوب یا د قانوني مراحلو په اړه شکایت د ماشوم ابتدایي ارزونه تعقیب کړي.[2]

که چېرې د هغه ماشوم والدین چې په کور کې زده کړه کوي او یا هم د والدینو لخوا د هغوی په خپلو لګښتونو په کوم شخصي ښوونځي کې زده کړې کوي، د ابتدایه ارزونې، یا بیا ارزونې لپاره له رضایت څخه انصراف کوي، او یا هم والدین د رضایت غوښتلو پر وړاندې منفي ځواب ورکوي، نو عمومي استازولي نه شي کولای د رضایت د انصراف له هغو لارو چارو استفاده وکړي چې مخکې یې تذکر وشو.[3]

د لومړنۍ ارزونې لپاره د والدینو رضایت پدې مانا نه دی چې ګویا هغوی عمومي استازولۍ ته هم رضایت ورکړی ترڅو د هغوی ماشوم ته ابتدائیه روزنه یا ځانګړې زده کړه او د اړونده خدماتو چمتو کول پیل کړي.

## د ایالتي ځانګو د لومړنی ارزونې لپاره ځانګړي قوانین

که چېرې کوم ماشوم په ایالتي ځانګه کې اسېږي او نه غواړي د خپلو والدینو سره ژوند وکړي، نو عمومي استازولي اړتیا نه لري چې د لومړنۍ ارزونې لپاره د والدینو رضایت واخلي ترڅو و پتېږي چې آیا ماشوم د معلولیت لري که چېرې:

- د دغه کار د ترسره کولو په موخه د منطقي ګامونو سربېره، عمومي استازولي نه شي کولای د ماشوم والدین پیدا کړي;
- د ایالتي قوانیو مطابق، د والدینو حقوق پای ته رسېدلي; یا
- یوه وکیل دغه حق تعئین کړی ترڅو علمي پرېکړې وکړي او له والدینو پرته د شخص په اړه د لومړنۍ ارزونې لپاره رضایت ترلاسه کړي.

## د خدماتو لپاره د والدینو رضایت

عمومي استازولي باید د لومړي ځل لپاره ماشوم ته له ځانګړېو زده کړو او اړونده خدماتو مخکې د والدینو منطقي رضایت ترلاسه کړي. عمومي استازولي نه شي کولای د مافقې یا هغو احتمالي ځانګړېو زده کړو او اړونده خدماتو د ترلاسه کولو لپاره د منځګړیتوی له رول یا قانوني پروسو له طرزالعملونو څخه استفاده وکړي چې ښایي د ماشوم لپاره د والدینو له رضایت پرته چمتو شي، که چېرې والدین:

- د ځانګړېو زده کړو او اړونده خدماتو د ترلاسه کولو په موخه د خپلو ماشومانو لپاره د رضایت ورکولو څخه انصراف کوي; یا
- د هغې غوښتنې لپاره له ځواب څخه انکار کوي چې د لومړي ځل لپاه د ځانګړېو زده کړو او اړونده خدماتو د ترلاسه کولو لپاره د رضایت چمتو کولو په اړه مطرح کېږي.

که چېرې والدین خپل ماشوم ته د لومړي ځل لپاره د ځانګړېو زده کړو او اړونده خدماتو د ترلاسه کولو په برخه کې له رضایت څخه انکار کوي، او یا هم والدین د رضایت اخیستنې لپاره غوښتنې ته ځواب څخه انکار کوي، نو عمومي استازولي:

- د هغوی د ماشوم لپاره د موجوده مناسبو وړیا عمومي زده کړو (FAPE) د رامنځ ته

---

[2] 34 CFR § 300.300(a)(3)(i).
[3] 34 CFR § 300.300(d)(4)(i-ii).

کولو په برخه کې له اصولو سرغړوونکې نه ګڼل کېږي; او
- اړ نه ده چې د هغوی د ماشوم لپاره د ځانګړي تعلیمي پروګرام (IEP) جلسه دائره او یا هم IEP ته انکشاف ورکړي.

## د خدماتو لپاره له رضایت څخه د والدینو انصراف

که چېرې والدین د ځانګړیو زده کړو او خدماتو لپاره په داسې حال کې چې ماشوم ته په لومړیو کې ځانګړې ښوونه او اړونده خدمات وړاندې شوي وي خپل رضایت په لیکلې بڼه فسخه کوي، نو عمومي استازولي:
- اړ نه ده چې د ماشوم د ځانګړو زده کړو او اړونده خدماتو د سوابقو د حذف په موخه د رضایت د بېرته اخیستو له امله د ماشوم د زده کړو سوابق تعدیل کړي.
- کولای شي د ماشوم لپاره د ځانګړیو زده کړو او اړونده خدماتو لړۍ و دروي، خو باید والدینو ته د هغوی د کتبي غوښتنې په ځواب کې د ځانګړیو زده کړو او اړونده خدماتو له قطع کېدو مخکې په لیکلې بڼه یوه داسې وار له مخکې خبرتیا چمتو کړي چې پر بنسټ یې ټولې ځانګړې زده کړې او اړونده خدمات پای ته رسي;
- نه شي کولای له منځګړیتوب او قانوني پروسو له طرزالعملونو څخه په استفادې سره مافقه او یا هم داسې مقررات رامنځ ته کړي چې له مخې یې ښايي ماشوم ته خدمات چمتو شي;
- به ماشوم ته د اضافي ځانګړیو زده کړو او اړونده خدماتو په وړاندې کولو کې د پاتې راتلو له امله د FAPE په رامنځ ته کولو سره سرغړوونکې و نه ګڼل شي; او
- اړه نه ده ترڅو د ماشوم لپاره د ځانګړیو زده کړو او اړونده خدماتو د وړاندې کولو په موخه د IEP د ټیم ناسته تشکیل او یا هم IEP ته پراختیا ورکړي.

د رضایت بېرته اخیستنه هغه اقدامات نه لغوه کوي چې د عمومي استازولۍ لخوا د رضایت اخیستنې او له رضایت څخه د انکار نه مخکې نېټو ترمنځ ترسره شوي.

## یوازې د IEP ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره د بیا ارزونې په موخه د والدینو رضایت

عمومي استازولي باید د ماشوم په اړه د بیا ارزونې نه مخکې د والدینو منطقي رضایت ترلاسه کړي، مګر دا چې عمومي استازولي وکولای شي ثابته کړي چې:
- هغوی د بیا ارزونې په موخه د والدینو د رضایت لپاره معقول اقدامات ترسره کړي; خو
- خو پدې اړه یې دا والدینو ځواب نه دی ترلاسه کړی.

که چېرې والدین د نوې ارزونې لپاره رضایت نه ورکوي، عمومي استازولي کولای شي، خو اړ نه ده ، ترڅو د والدینو د رضایت د انصراف لپاره له منځګړیتوب او د قانوني مراحلو له طرزالعملونو څخه په استفادې سره، د والدینو رضایت په پام کې و نه نیسي. د لومړنۍ ارزونې په حیث، د IDEA د اصولو له مخې که چېرې عمومي استازولي د نویو ارزونو له دوام څخه انصراف کوي، نو پدې مانا نه ده چې عمومي استازولي خپلې ژمنې نقض کوي.

## د والدینو د رضایت ترلاسه کولو لپاره د منطقي اقداماتو سجل کول:

عمومي استازولي باید د لومړنیو ارزونو، د لومړي ځل لپاره د بیا ارزونې په موخه د ځانګړیو زده کړو او اړونده خدماتو

او د لومړنیو ارزونو لپاره په ایالتي ځانګوکې د والدینو د ځای پر ځای کولو لپاره د هغوی د رضایت اخیستلو په برخه کې منطقي د منطقي اقدامات ثبت او ساتنه وکړي، لکه.
په مستنداتوکې باید د عمومي استازولۍ د هغو هڅو ریکارډ یا ثبت شامل وي چې د والدینو د رضایت اخیستو په موخه يې ترسره کړې دي، لکه:

- د نیول شویو او هڅه شویو تلفوني اړیکو بشپړ ریکارډ او د هغې پایلې؛
- د هغو مراسلاتو کاپیانې چې والدینو ته استول شوي دي او یا يې هم په اړه ځوابونه ترلاسه شوي دي؛ او
- د والدینو کورونو یا کاري دفترونو ته د مراجعې بشپړ ریکارډ او د دغو مراجعو پایلې.

## د رضایت اړنده نور اړین موارد

د عمومي استازولۍ لخوا د لاندینیو مواردو له ترسره کېدو مخکې رضایت ته اړتیا نشته:

- ستاسو د ماشوم د لومړنۍ ارزونې یا بیا ارزونې د یوې برخې په حیث، د موجوده معلوماتو بیاکتنه؛ یا
- په هغه صورت کې چې ستاسو د ماشوم آزموینه یا کومه بله داسې ارزونه کېږي چې په ټولو ماشومانو باندې تطبیق شوې وي، پرته له دې چې مخکې:

عمومي استازولي ښايي له رضايت څخه د مور او پلار انکار ونه کاروي ترڅو والدین یا ماشوم کوم بل خدمت، ګټه یا فعالیت رد کړي.

که چېرې یو له والدینو خپل ماشوم ته په کور کې زده کړه غواړي او یا هم په خپلو مصارفو سره ماشوم په یوه خصوصي ښوونځي کې شاملوي، نو عمومي استازولي نه شي کولای له منځګړیتوب یا د قانوني پروسو له طرزالعمل نه په استفادې سره رضایت فسخ کړي، او عمومي استازولي اړ نه ده چې د لاندینیو مواردو په صورت کې، ماشوم د خدماتو د ترلاسه کولو لپاره د 34 C.F.R.§§ 300.132-300.144 قانون مطابق په شرائطو برابر وګڼي:

- که چې والدین د خپل ماشوم د لومړنۍ ارزونې یا بیا ارزونې لپاره رضایت نه ورکوي؛ یا
- والدین د رضایت ولکولو د غوښتنې په برخه کې بې ځوابه پاتې کېږي.

د هغه اقدام سربېره چې IDEA ورته (د لومړنۍ ارزونې، د خدماتو اولیه تمویل او بیا ارزونې) په برخه کې اړتیا لري، د مېریلنډ د قوانینو له مخې د IEP ټیم اړ دی ترڅو د ټیم لخوا د لاندینیو مواردو په صورت کې له والدینو څخه کتبي رضایت ترلاسه کړي:

- که چې ماشوم په یوه بله داسې بدیله تعلیمي برنامه کې شمولیت اخلي چې د مېریلنډ د عالي ښوونځي ډیپلوم یا سند (Maryland High School Diploma) نه وړاندې کوي؛
- که چې ماشوم د ایالتي تعلیمي نصاب مطابق، بدیلې تعلیمي ارزونې ته معرفي کېږي؛ یا
- که چې د ماشوم چلند ته د رسېدنې په موخه، د COMAR 13A.08.04.05 قانو مطابق په IEP کې محدودیت یا انزوا رامنځ ته کېږي.

که چېرې والدین د مندرجه وړاندیز شویو اقداماتو لپاه د کتبي رضایت له چمتو کولو انکار کوي، نو د IEP ټیم باید د لاندې مواردو د خبرتیا په اړه له خپلې ناستې وروسته په (5) کاري ورځو کې په کتبي ډول والدینو ته هغه خبرتیا واستوي چې د والدینو حقوق پکې ذکر شوي دي:

- والدین حق لري چې د وړاندیز شویو اقداماتو لپاره رضایت ورکړي او یا هم له رضایت څخه انکاروکړي؛ او
- که چېرې والدین د IEP له ناستې وروسته په (15) کاري ورځو کې په کتبي ډول رضایت ورکوي

او یا هم له رضایت څخه په کتبي ډول انکار کوي، IEP کولای شي وړاندیزي شوي اقدامات تطبیق کړي.

که چېرې والدین د مندرجه وړاندیز شویواقداماتو له ډلې د کوم ډوه لپاره یې له رضایت څخه انکار کوي، عمومي استازولي کولای شي د منازعاتو د حل له هغهوانتخابونو څخه استفاده وکړي چې (د منځګړیتوب یا قانوني پروسو) لپاره د معارف په قوانینو- 413-8§ کې لېست شوي دي.

# د IFSP -C برخه

## د IFSP له لارې د خدماتو د ترلاسه کولو لپاره د والدینو رضایت:

والدین باید له لاندینیو مواردو څخه مخکې کتبي رضایت ورکړي:

- د ماشوم او کورنۍ په اړه له ټولو آزموینو، ارزونو او نظرپوښتنو مخکې
- د لومړنیو روزنیزو خدماتو او اضافي ارزونو له پیلېدو مخکې
- که چېرې په کتبي ډول رضایت نه ورکول کېږي، سیمه ئیزه استازولي باید منطقي هڅې وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې والدین:
  - د ارزونې، ارزیابۍ او موجوده خدماتو له ماهیت څخه پوره آګاهي لري; او
  - پدې پوهېږي چې له کتبي رضایت پرته د هغوی ماشومان نه شي کولای ارزونه، ارزیابي یا خدمات ترلاسه کړي.

## همدارنګه والدین حق لري چې د خدماتو ترلاسه کول رد کړي:

د هغو ماشومانو والدین چې په شرائطو برابر دي کولای شي مشخصه کړي چې آیا دوی، د هغوی ماشومان او یا د کورنۍ نور غړي به هر ډول د لومړنۍ روزنې خدمات رد کړي او کولای شي یاد خدمات د لومړنۍ روزنې په برخه کې د اړونده خدماتو په خطر کې اچولو پرته، مسترد کړي. که چېرې والدین غواړي د یوه تمدید شوي IFSP له لارې خپل درې کلن یا له هغې څخه د زیات عمر لرونکي ماشوم لپاره خدمات دوام وموي، نو یوه تعلیمي برخه باید پکې شامله وي. که چېرې والدین دغه تعلیمي برخه نه غواړي، نو هغوی د لومړنۍ روزنې اړونده خدماتو لپاره په شرائطو برابر نه ګڼل کېږي.

## د اضافي ارزونو لپاره د والدینو رضایت:

عمومي استازولي باید د ماشوم په اړه د اضافي ځانګړیو ارزونې له تطبیق مخکې، منطقي رضایت ترلاسه کړي. که چېرې والدین رضایت نه ورکوي، نو استازولي معقول اقدامات ترسره کړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې والدین:

- د ماشوم د موجوده ارزونې له ماهیت څخه بشپړه آګاهي لري; او
- پوهېږي چې له رضایت پرته به د هغوی ماشوم و نشي کولای ارزونه ترلاسه کړي.

که چېرې والدین د اضافي ارزونو لپاره رضایت نه ورکوي، عمومي استازولي نه شي کولای له قانوني طرزالعملونو څخه په استفادې سره والدین وګواښي ترڅو رضایت ورکړي.

## خپلواکه تعلیمي ارزونه

**IEP یوازې**

**34 C.F.R. § 300.502**

**که چېرې والدین د عمومي استازولۍ لخوا د ترسره شوې ارزونې سره مافق نه وي، والدین دا حق لري ترڅو ماشوم یې د کوم بل داسې کس لخوا و ارزول شي چې په عمومي استازولۍ کې دنده نه لري. یوازې هغه والدین د خپلواکه ارزونې لپاره غوره کېږي چې ماشوم یې د B برخې تر اصولو لاندې وي.**

## تعریفات:

- خپلواکه تعلیمي ارزونه هغې ارزونې ته وايي چې د یوه مناسب او په شرائطو برابر شخص لخوا چې د عمومي استازولۍ لخوا د ماشوم د زده کړې لپاره نه وي ګومارل شوی; او
- عامه مصارف هغوو مصارفو ته وايي چې یا د عمومي استازولۍ په بشپړه توګه تادیه کېږي او یا هم داډ ورکوي چې د ارزونې مصارف وړیا او د والدینو لخوا نه تادیه کېږي.

والدین حق لري چې د لاندینیو طرزالعملونو په پام کې نیولو سره د هغوی له ماشوم څخه یوه خپلواکه تعلیمي ارزونه د IDEA د اصولو له مخې ترسره شي. عمومي استازولي باید د خپلواکه تعلیمي ارزونې د غوښتې په صورت کې والدینو ته لاندې معلومات چمتو کړي:

- د خپلواکې تعلیمي ارزونې ځای یا آدرس; او
- د عمومي استازولۍ هغه معیارونه چې د یوې خپلواکه تعلیمي ارزونې لپاره په پام کې نیول کېږي.

## د عمومي استازولۍ معیارونه:

که چې خپلواکه تعلیمي ارزونه د عامه لګښتونو له لارې ترسره کېږي، هغه معیارونه چې په پلې کېدو سره یې یوه خپلواکه تعلیمي ارزونه په لاسر راځي، لکه د ارزونې د ترسره کېدو موقعیت او د ارزوونکي صلاحیتونه باید د هغو معیارونو مطابق وي چې عمومي استازولي یې د ارزونې د تطبیق پرمهال کاروي، تر هغه ځایه چې معیارونه د خپلواکې تعلیمي ارزونې په برخه کې د والدینو د حقونو سره مطابقت ولري. له ذکر شویو معیارونو پرته، عمومي استازولي نشي د خپلواکه تعلیمي ارزونې اړونده شرائط یا مهالویش په کار وا نه چوي.

## د عامه مصارفو له لارې د ارزونې په برخه کې د والدینو حقوق:

والدین حق لري چې یوازې د یوه ځل لپاره د عامه مصارف له لارې خپلواکه تعلیمي ارزونه ترسره شي[4]

- که چیري والدین د عمومی استازولی لخوا د ترلاسه شویي ارزونی سره موافق نه وي
- والدین عامه استازولۍ ته د تعلیمي ارزونې لپاره کتبي غوښتنه چي د عامه استازولی لخوا ترسره کیږي او عامه استازولۍ

o غوښتنې ته په 30 ورځو کې ځواب نه وايي؛ یا
o غوښتنه تاییدوي مګر د زده کړې ارزونې ناسته، غیر له دې چې د والدینو خطا وي:
 د شپیتو (60) ورځو دننه وروسته له هغې نیټې چې غوښتنه د عامه استازولۍ لخوا ترلاسه شوې وه پیښه نشي؛ یا
 که چیرې دولت د والي لخوا اعلام شوی د بیړنۍ حالت لاندې وي، نوي (90) ورځې دننه وروسته له هغه نیټه چې غوښتنه یې د عامه استازولۍ لخوا ترلاسه شوې وه پیښه نشي.

که چېرې والدین د عامه مصارفو له لارې د خپلواکه تعلیمي ارزونې غوښتنه کوي، عمومي استازولي

---

(4)34 CFR § 300.502(b)(5).

باید غیر ضروري ځنډ پرته، یا غوښتنه تائید کړي او والدینو ته د عامه مصارفو له لارې د ارزونې د مدیریت اړونده پروسو په برخه کې مشوره ورکړي، او یا غوښتنه رد او د قانوني پروسو د غوښتنې په موخه دوسینه پرانیزي.

که چېرې عمومي استازولي د قانوني پروسو د پیل لپاره د حق غوښتنه کوي او ورستۍ پرېکړه دا نیول کېږي چې د عمومي استازولۍ ارزونه په سمه توګه ترسره شوې، نو والدین بیا هم د خپلواکه تعلیمي ارزونې حق لري، خو دغه ارزونه به د عامه مصارف له لارې نه وي.

که چېرې والدین د خپلواکه تعلیمي ارزونې غوښتنه کوي، شايي عمومي استازولي له والدینو د عامه ارزونې د لامل په اړه پوښتنه وکړي. که څه هم د والدینو تشریح ته اړتیا نشته، او شايي عمومي استازولي د عامه مصارفو له لارې خپلواکه تعلیمي ارزونه او یا هم د قانوني پروسو لپاره د عدالت غوښتنه په غیر مؤجه ډول و نه ځنډوي ترڅو له خپلې ارزونې دفاع وکړي.

## د والدینو لخوا اولیه ارزونه:

والدین همېشه حق لري چې په خپله خوښه او په خپلو شخصي مصارفو د مجربه مسلکي کسانو په مرسته یوه خپلواکه تعلیمي ارزونه ترسره کړي. د والدینو لخوا د پیل شویو ارزونو پایلې چې د عمومي استازولۍ په معیارونو برابرې وي او د پرېکړو پرمهال د ماشومانو د FAPE حقوقو ته پکې درناوی شوی وي، د عمومي استازولۍ او د IEP ټیم لخوا په پام کې ونیول شي.[5] همدارنګه د والدینو لخوا د پیل شوې شخصي ارزونې پایلې شايي د قانوني مراحلو په اړه د شکایت اورېدو پرمهال ثبوتونو په حیث وړاندې شي.

## د یوې داسې ارزونې لپاره غوښتنه چې باید د اداري حقوقو د یوه قاضي (ALJ) لخوا ترسره شي:

که چېرې د اداري حقوقو وکیل (ALJ) د اداري ناستو د دفتر (OAH) سره یو ځای، د خپلواکې ارزونې لپاره غوښتنه د عدالت غوښتنې د یوې برخې په حیث وړاندې کړي، نو د ارزونې مصارف باید د عامه مصارف د ځانګې لخوا ترسره شي.

## رضاعي والدین

**<u>IEP او IFSP</u>**

**34 C.F.R. § 300.519 and § 303.422**

سیمه ئیزه استازولي، سیمه ئیزه ښوونیز سیستم، یا په بله مانا یو وکیل کولای شي د لاندینیو مواردو په صورت کې رضاعي والدین د یوه په شرائطو برابر ماشوم لپاره د هغه د استازي په حیث غوره کړي:

- کله چې د والدینو هوئیت نه تثبیتېږي؛
- کله چې عمومي استازولي له مناسبو هڅو وروسته نه شي کولای د ماشوم والدین پیدا کړي؛ یا
- کله چې ماشوم د مېریلنډ په ایالتي ځانګه پورې اړه لري.
- د پالنې اداره باید مناسبې هڅې وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د عمومي استازولۍ لخوا د

(5)34 CFR § 303.502(c).

رضاعي والدینو لپاره د ماشوم د اړتیاو له مشخص کولو 30 ورسته د هغه لپاه رضاعي والدین تعئینېږي.

## د رضاعي والدینو لپاره معیاررونه:

- د ماشوم د علاقې پروړاندې خنډ نه واقع کېدل
- د هغو پوهې او مهارتونه درلودل چې د ماشوم له حقونو په بشپړه توګه دفاع وکړي
- په ایالتي حکومت یا د خدماتو د چمتو کولو په کومه بله داسې اداره کې د دندې نه شتون چې د ماشوم یا د ماشوم د کورنۍ لپاره د لومړنۍ روزنې یا نورو خدماتو د عرضې په برخه کې فعالیت لري.

کله چې رضاعي والدین تعئنېږي، نو هغوی په ټولو مواردو کې هماغه د اصلي والدینو حقوق لري.

- رضاعي والدین یوازې په دې دلیل چې د عمومي استازولۍ لخوا ورسره د والدینو په حیث مالي مرسته کېږي، د استازولۍ کارمند نه محسوبېږي.

سیمه ئیزه استازولي یا سیمه ئیزه ښوونځي باید د ښوونځیو په برخه کې ایالتي ارشد استازي، یا د رضاعي والدینو د تعئینولو په برخه کې د هغه لخوا ټاکل شوي شخص ته خبر ورکړي. رضاعي والدین کولای شي په ټولو اړونده لاندینیو مواردو کې د ماشوم نمایندګي وکړي:

- د ماشوم ارزونه او ارزیابي;
- د کلنیو ارزونو او مرحله ئي ارزونو په ګډون، د ماشوم د IFSP پراختیا او په لاره اچول;
- د ماشوم د IEP پراختیا، بیاکتنه او ارزونه;
- د ماشوم او کورنۍ لپاره د IFSP له لارې د دوامداره لومړنۍ روزنې او خدماتو چمتوکول; یا
- د IEP له لارې د ماشوم لپاره د ځانګړیو زده کړو او اړونده خدماتو چمتو کول.

## د معلوماتو محرمیت

**<u>IEP او IFSP</u>**

**34 C.F.R. §§ 300.610-627 and 34 C.F.R. §§ 303.401-417**

**که چېرې والدین پدې فکر وي چې د هغوی د ماشومانو ثبت یا ریکارډ دقیق نه دی، نو هغوی حق لري چې د خپلو ماشومانو د ثبت یا ریکارډونو ارزونه وکړي او له عمومي استازولۍ غوښتنه وکړي ترڅو یاد مواردو اصلاح کړي. د والدینو رضایت باید د شخص د هوئیتي معلوماتو له نشر مخکې واخیستل شي، خو په ځینو مواردو کې ستاسو د هغوی رضایت ته اړتیا نشته لکه څنګه چې لاندې تشریح شوي. والدین حق لري چې له عمومي استازولۍ غوښتنه وکړي ترڅو د هغوی د ماشوم د لومړنۍ روزنې یا تعلیمي ریکارډونو معلومات محرم وساتي او له هغوی څخه غوښتنه وکړي چې د لومړنۍ رزونې یا تعلیمي خدماتو چمتو کولو ته د اړتیا د نه شتون په صورت کې د ماشوم تعلیمي معلومات له منځ یوسي.**

## تعریفات:

له منځه وړل پدې مانا دي چې په فزيکي ډول هغه شخصي معلومات له سيستم څخه له منځه يوړل شي چې د شخصي معرفت لپاره ورته نوره اړتيا نه ليدل کېږي.

تعليمي سوابق پدې مانا دي چې د تعليمي سوابقو د 99 برخې .C.F.R 34 قانون (د کورنيو د تعليمي حقونو او شخصي حريم په برخه کې د 1974 کال د [FERPA] قانون د مقرراتو د تطبيق) د تعريف مطابق تعليمي سوابق تر پوښښ لاندې ونيول شي.

د لومړنۍ ارزونې سوابق يعنې د هغه ماشوم اړونده ټول سوابق مرستې او ساتنې ته اړتيا لري، او يا هم د IDEA د C برخې په اصولو او د دغې برخې په مقرراتو برابر وي.

استازولي يعنې هره هغه اداره يا بنسټ چې د هوئيت اړونده شخي معلوماتو راټول، ساتل او له هغې نه د استفادې مسؤليت په غاړه لري، او يا هم د IDEA د B برخې مطابق معلوم ترې حاصلېږي. د C برخې مطابق، په استازولۍ کې هغه اداري نمايندګۍ او د لومړنۍ روزنې اړونده خدماتو چمتو کوونکي او بل هر حقوقي او حقيقي شخص شاملېږي چې د لومړنۍ روزنې اړونده خدماتو عرضه کوي. پدې کې د اوليه مراجعو سرچينې، يا عامه استازولۍ (لکه ايالتي طبي مرستې يا د CHIP پروګرام) او يا هم بنسټونه (د بيمې شخصي شرکتونه) چې يوازې د C برخې د خدماتو لپاره د مالي منابعو حيثيت لري، نه شاملېږي.

د شخصي معرفت په معلوماتو کې لاندې موارد شاملېږي:
- د ماشوم، د هغه د والدينو او د کورنۍ د نورو غړيو نومونه;
- د ماشوم آدرس;
- د شخص معرفي کوونکې مورد، لکه د ماشوم د ټولنيز امنيت شمېره; يا
- د شخصي ځانګړنو او نورو معلوماتو يو لېست چې وکولای شي په يقيني توګه د ماشوم معرفت وکړي.

هغه ماشومانو لپاره چې د IFSP د خدماتو تر پوښښ لاندې دي، د شخصي معرفت په معلوماتو کې لاندې موارد شاملېږي:
- غير مستقيم معرفت، لکه د ماشوم د زېږون نېټه، د اوسېدو ځای، او د مور کورنۍ نوم;
- نورهغه معلومات چې په تنهايي يا په ګډه سره د يوه داسې ځانګړي ماشوم سره تړاو ولري چې وکولای شي د لومړنۍ روزنې د خدماتو په برخه کې يو داسې شخص ته لاره هواره کړي چې د اړونده شرائطو په اړه شخصي معلومات و نه لري، ترڅو په يقيني توګه د ماشوم معرفت وکړي; يا
- هغه معلومات چې د يوه داسې شخص لخوا يې غوښتنه کېږي چې تعليمي اداره يا انستيتيوت يې په اړه يقيني شناخت لري.

## محافظتونه:

هره برخه اخیستونکې اداره بايد د راټولو، ساتلو، ښودلو او تخريبي مراحلو پرمهال د شخصي پیژندنې وړ معلوماتو محرمیت وساتي. د عمومي استازولۍ يو چارواکی د شخصي معرفت اړونده معلوماتو د محرم ساتلو مسؤل دی. د دغو طرزالعملي حفاظتونو د اړتياو سربېره، فدرالي او ايالتي قوانين او مقررات هم د دغو تعليمي سوابقو مديريت کوي. د عمومي استازولۍ ټول کارمندان چې د شخصي معرفت اړونده معلوماتو د راټولولو يا استفاده کولو مسؤليت لري، بايد د شخصي معرفت اړونده معلوماتو د محرم ساتنې په برخه کې د ايالت د طرزالعملونو او مقرراتو په اړه روزنه

ترلاسه کړي. هره برخه اخیستونکې اداره باید د عامه پلټنې او هغو کارمندانو د نومونو او موقفونو د موجوده لېست ساتنه وکړي، چې په یوه داسې استازولۍ کې دنده ترسره کوي چې د شخصي معرفت اړونده اسنادو ته لاسرسی لري.[6]

## رضایت

د والدینو رضایت بای‌د مخکې له دې چې د شخصي معرفت اړونده معلومات د B برخې د معیارونو د پوره کولو په موخه د راغلیو ادارو له چارواکو پرته، نورو ډلو ته ښکاره شي، ترلاسه شي، مګر دا په هغه صورت کې چې معلومات په تعلیمي سوابقو کې موجود وي او د معلوماتو افشا کول د 34 C.F.R. Part 99 قانون مطابق د والدینو له رضایت پرته جواز ولري. عمومي استازولي باید د هغې ګډونوالې استازولۍ چارواکو ته چې د IDEA (IEP) د B برخې مطابق د خدماتو د عرضې لپاره تادیه کوي، د شخصي معرفت اړونده معلوماتو له ښکاره کولو مخکې د والدینتوب یا هغو په شرائطو برابر ماشومانو رضایت ترلاسه کړي چې د ایالتي قوانینو مطابق قانوني سن ته رسېدلي ولي; او که چېرې کوم ماشوم په یوه داسې شخصي ښوونځي کې شمولیت ولري یا د شمولیت په جریان کې وي چې د والدینو د استوګنې په تعلیمي حوزه کې موقعیت و نه لري، د والدینو رضایت باید د سیمه ئیزې تعلیمي ادارې (LEA) چېرې چې خصوصي ښوونځی موقعیت لري د چارواکو او د والدینو په سیمه کې د LEA د چارواکو ترمنځ د ماشوم د شخصي معرفت اړونده معلوماتو د افشا نه مخکې، واخیستل شي.

MSDE د عمومي استازولیو لپاره پالیسیو او طرزالعملونو ته انکشاف ورکړی، چې پدې کې هغه تعذیرات هم شاملېږي چې ایالتي حکومت یې د پالیسیو او طرزالعملونو له تطبیق څخه د اطمینان اخیستو او د IDEA او FERPA معیارونو له مخې د محرمیت د اړتیاو د پوره کولو په برخه کې استفاده کوي. که چېرې کومه اداره یا شخص پدې باور وي چې کومه عمومي استازولي د IDEA له معیارونو سرغړونه کوي، کولای شي د ستونزې د حل په موخه ایالتي ادارې شکایت ثبت کړي.

هره عمومي استازولي اړه ده ترڅو پدې موخه چې معلومه شي کافي خبرتیاوې څنګه چمتو کېږي او کولای شي والدینو ته د شخصي معرفت اړونده معلوماتو د محرم ساتلو په برخه کې پوره معلومات ورکړي، چې پدې کې لاندې مواردو شاملېږي:

- د هغو خبرتیاوو د میزان یا اندازې په اړه تشریحات چې په ایالت کې د ټولنې د ګڼ شمېر توکمونو په مورنۍ ژبه لیکل کېږي;
- د هغو ماشومانو په اړه تشریحات چې د شخصي معرفت اړونده معلومات یې په اړه ساتل کېږي او د مطلوبو معلوماتو ډولونه;
- د هغه شخص / اداری لپاره لاسلیک او د اړیکې معلومات چې ایالتي شکایت ثبتوي؛ او
- که ایالتي شکایت د یو ځانګړي ماشوم په اړه سرغړونه وړاندې کړي:
    - د ماشوم نوم او آدرس
    - هغه ښوونځي نوم چې ماشوم پکې زده کړه کوي.
    - د بې کوره ماشوم یا ځوان په صورت، د ماشوم لپاره د اړیکې جزییات، او د ښوونځي نوم چې ماشوم پکې زده کړه کوي.
    - د ماشوم د ستونزې د نوعیت تفصیل، په شمول د ستونزې اړوند حقایق؛ او
    - د ستونزو وړاندیز شوي حل تر هغه کچې پورې چې ایالتی شکایت درج کیږي او هغه خواوې ته د شکایت د ثبتولو په وخت کې د لاسرسی وړشي.

یادونه: MSDE د ایالتی شکایت ثبتولو لپاره د والدینو او عامه ادارو سره د مرستې پخاطر د فورمې نمونې لري . والدین، عامه ادارې او نورې خواوې کولی شي دا نمونې وکاروي، یا دوی کولی شی کوم بل فورمه وکاروي تر هغه چې دا پورته شرایط پوره کړي.

ایالتي شکایت باید د داسې سرغړونې ادعا وکړي چې د ایالت لخوا د شکایت ترلاسه کولو څخه یو کال دمخه نه وی پیښ شوي.

MSDE باید یوه لیکلې پریکړه چې د حقایقو او پایلې پکې شامل وي د شکایت د ترلاسه کولو په ۶۰ ورځو کې صادر کړي، او کولی شی د 60 ورځو مهال ویش یوازې وغځوي که چیرې:

- د ځانګړي شکایت په اړه استثنایي حالات شتون و لري؛ یا[28]
- والدین او عامه اداره په داوطلبانه ډول موافقه وکړي چې د مینځګړیتوب یا د شخړې د حل بدیله لارې لپاره وخت وغځوي[29]

---

[28] 34 CFR § 300.152(b)(1)(i).
[29] 34 CFR § 300.152(b)(1)(ii).

لږترلږه، MSDE باید:

- په ساحه کې يو خپلواک تحقيق ترسره کړئ، که چيرې دا اړينه وي؛
- شکايت کونکي ته فرصت چمتو کړئ چې په ايالت کې د تورونو په اړه اضافي معلومات په شفاهی او یا ليکلي ډول وسپاري؛
- عامه ادارې ته فرصت ورکړئ چې د موافقت حل لپاره پروپوزل وړاندې کړي او دواړو خواوو ته دا فرصت چمتو کړي چې په خپله خوښه منځګړيتوب کې د [30]34 CFR 300.506.30 سره مطابقت ولري.
- ټولو اړوند معلوماتو ته کتنه وکړئ او خپلواکه پرېکړه وکړئ چې ايا عامه اداره د فدرال او ايالتی قوانينو غوښتنو څخه سرغړونه کړې که نه؛ او
- شکايت کونکي او عامه ادارې ته يوه ليکلې پرېکړه صادره کړي چې په شکايت کې هر تور ته رسيدګی وکړي او د حقیقت موندنې او پايلو او د MSDE وروستۍ پرېکړې لاملونه پکې شامل وي.

پدې پرېکړه کې باید د وروستۍ پرېکړې د مؤثره پلي کیدو کړنلارې او که اړتيا وي پشمول د تخنيکي مرستې فعاليتونه، خبرې اترې، او د شکايت لاسته راوړلو لپاره اصلاحي کړنې، پکې شامل وي. که MSDE معلومه کړي چې عامه اداره د مناسب خدماتو چمتو کولو کې پاتې راغلی، نو وروستۍ ليکل شوې پرېکړه باید په ګوته کړي چې څنګه عامه اداره کولی شی د ماشوم اړتياو سره سم د خدماتو د رد کولو جبران کړي، د اصالحي اقدام په شمول چې د ماشوم اړتياوې حل کړي (لکه د معاوضې خدمتونه يا د پيسو بيرته ورکونه)، او د معلوليت لرونکو ټولو ماشومانو لپاره مناسب راتلونکي خدمات چمتو کړي.

## د ايالتی شکايتونو حلول:

د اختلاف د حل لپاره منځګړيتوب او نور لږ رسمي ميتودونه شتون لري او هڅول کيدی شي که دواړو خواوو شکايت حل کړي، MSDE د فدرالي مقرراتو له مخې تفتيش نه ترسره کوي.

## د یو ايالتی شکايت حلول چې د استماع قانون پروسې يوه موضوع وي:

که چيرې MSDE داسې ايالتي شکايت ترلاسه کړي چې د اوريدو قانونی پروسې يوه برخه وی، يا دا چې يوه ايالتی شکايت کې ډيرې مسلې شتون و لري چې يوه يا ډيری يې د استماع يوه برخه وی، MSDE باید د ايالتی شکايت هره برخه ودروي ترڅو چې د دې پروسې اوريدنې تر پای پورې د قانونی استماع رسيدګی وشي. په هرصورت، د ايالتی شکايت کې کومه مسله چې د ټاکل شوې پروسې د استماع برخه نه وي باید د مهال ويش او پورتنۍ کړنالرې په کارولو سره حل شي. که يوه مسله د ايالتي شکايت کې راپورته شي چې دمخه د ورته پروسې په استماع کې پرېکړه شوې وي، د ورته اړخونو ښکيلتيا، د اوريدنې پرېکړه لازمي ده، او MSDE باید تر هغه پايلی پورې شکايت کونکې ته اطلاع ورکړي.

## قانوني شکايت

**والدين، د لمړني مداخلې خدماتو چمتو کونکي، محلي مشرې اداره، يا عامه اداره کولی شی د ماشوم پيژندنې، ارزونې، يا ځای پرځای کولو يا د لمړنی مداخلت خدماتو يا تعليمي ځای چمتو کولو پورې اړوند هرډول موضوع او يا ماشوم ته د وړيا مناسب عامه زده کړې (FAPE) چمتو کولو په برخه شکايت درج کړي.[31]**

---

[30] 34 CFR § 300.152(a)(3).
[31] 34 CFR § 303.440(a).

قانوني شکایت باید د سرغړونې په وړاندې ادعا وکړي چې د والدین او ادارې د شکایت د اساس د پوهیدو څخه دوه کلونو کې پیښ شوي وي. یا که ایالت پدې برخه کې د داسې پروسې اوریدنې غوښتنه کولو لپاره ځانګړې د وخت محدودیت ولري، په هغه وخت کې چې د ایالت قانون لخوا ورته اجازه ورکړل شوې وي.[32]

دا مهال ویش هغه والدین باندې نه پلې کیږي که چیرې والدین د مهال ویش سره سم د قانوني شکایت کولو څخه منع شوی وي ځکه چې عامه اداره په ځانګړې ډول غلط وړاندیز کوي چې قانوني شکایت کې پېژندل شوې مسلې حل کړي، یا عامه ادارې له والدینو څخه هغه معلومات پټ کړي چې دIDEA شرایطو لاندې اړین وو.[33]
د مناسب پروسې شکایت ثبتولو لپاره، والدین یا عامه اداره (یا د والدین وکیل یا د عامه ادارې وکیل) باید یوه قانوني شکایت بلې ډلې او OAH ته وسپاري. دا شکایت باید ټول لاندې مینځپانګه ولري او باید محرم وساتل شي.
د قانوني شکایت ثبتولو کې د والدینو سره د مرستې لپاره، د مینځګړیتوب او قانوني شکایت لپاره د شکایاتو فورمه د عامه ادارې لپاره شتون لري چې پکې لومړني مداخلې خدمات چمتو شوي، چیرې چې ماشوم ښوونځي ته ځي، اوهمدا رنګه د MSDE ویب پاڼه
www.marylandpublicschools.org. کې شتون لري.
د والدینو په غوښتنه د هرې احتمالي وړیا یا ټیټ لګښت قانوني سرچینو په اړه هم معلومات شتون لري یا که والدین یا اداره د قانوني شکایت ثبت کړي. د نورو مرستې لپاره، د عامه ادارې ابتدایي خدماتو مداخلې دفتر، ځانګړې زده کړې دفتر، یا د MSDE څانګې د مداخلې / ځانګړې زده کړې خدماتو څانګې سره په دغه شمیره 7770 -767 (410) اړیکه ونیسئ.

## د قانوني پروسې د شکایتونو (محتوا) مینځپانګه:

د قانوني شکایت کې باید لاندې موارد شامل وي:

- د ماشوم نوم؛
- د ماشوم استوګنځي پته(یا د بې کوره ماشوم، د اړیکې شته معلومات)
- د هغه ښوونځي نوم چې ماشوم پکې درس وایي.
- د عامه ادارې نوم چې د ماشوم تعلیم لپاره مسؤل دی (د بیلګې په توګه، د ښوونځي محلي سیستم)
- د وړاندیز شوي یا رد شوي ابتکار یا بدلون پورې اړوند د ماشوم ستونزې بیان، په شمول د ستونزې پورې اړوند حقایق؛ او
- د ستونزې لپاره وړاندیز شوی حل لاره تر هغه حده پورې چې د بل خواوې ته د شکایت په وخت کې د پېژندل شوی او موجود وي.

والدین یا عامه اداره کولی شي د پروسې د استماع ورتیا ونلري تر هغې چې والدین یا عام اداره (یا د والدین وکیل یا د عامه ادارې وکیل)، یوه قانوني شکایت ثبت کړي چې دا معلومات پکې شامل وي MSDE .د قانوني شکایت نمونې لري چې د والدینو او عامه ادارو سره د شکایت د ثبتولو په برخه کې مرسته کوي. والدین، عامه ادارې او نور خواوې ممکن دا نمونې وکاروي، یا دوی کولی شي کوم بل فارم وکاروي تر هغه چې دا پورته شرایط پوره کړي.

قانوني شکایت ته رسیدګي:

[32] 34 CFR § 300.511(e).
[33] 34 CFR § 300.511(f).

کله چې یو اړخ د قانوني شکایت وکړي، عامه اداره باید د ماشوم وختي مداخلې او تعلیم مسؤلیت ولري:
- د وړیا یا ټیټ لګښت قانوني او نورو اړوند خدماتو والدینو ته خبر ورکول؛
- والدینو ته د خوندیتوب طرزالعمل سند یوه کاپي چمتو کړئ؛ او
- د مینځګړیتوب د شتون په اړه والدینو ته خبر ورکړئ.

که چیرې عامه اداره د والدین لخوا راپورته شوي مسلو په اړه والدین ته دمخه لیکلي خبرتیا نه وي استولې، عامه اداره باید د قانوني شکایت ترلاسه کولو په 10 ورځو کې والدینو ته ځواب ولیږي چې پدې کې لاندې موارد شامل دي:
- پدې اړه توضیحات چې ولې عامه اداره وړاندیز کوي یا یې اقدام نه کوي.
- د نورو انتخابونو توضیحات چې عامه ادارې ورته په پام کې نیولې او د دې لاملونه چې ولې رد شوي؛
- د ارزونې هرې پروسې، ارزونې، ریکارډ یا راپور توضیحات چې د وړاندیز شوي یا منع شوي عمل لپاره د اساس په توګه کارول شوې وه؛
- د نورو عواملو توضیحات چې اړوند و او د وړاندیز شوي یا رد شوي عمل لپاره د اساس په توګه کارول شوي و
- یو بیان چې د معلولیت لرونکي ماشوم والدین د دې برخې د کړنلارې لاندې محافظت لري او، که چیرې دا یاداشت د ارزونې لپاره لومړني مرجع نه وي، نو د هغه لارې چې د طرزالعمل محافظت یوه کاپي ترلاسه کېدی شي؛ او
- د والدین لپاره سرچینې تر څو د IDEA شرایطو د پوهیدلو لپاره مرستې ترلاسه کړي.

دا ځواب ویل یا رسیدګي، عامه ادارې ته د دفاع کولو او یا اثباتولو څخه نه منع کوي که چیرې د والدین قانوني شکایت کافي نه وي، چیرې چې دا دفاعیه مناسب وي.

د قانوني شکایت بلې خواوې (والدین یا عامه اداره) باید بل لوری ته یو ځواب واستوي چې په ځانګړې توګه د قانوني شکایت ترلاسه کولو وروسته د 10 تقویمي ورځو په جریان کې د قانوني شکایت مسلې حل کیږي.

## د اطلاع ورکولو بسیا:

د قانوني پروسې شکایت به بسیا شمیرل کیږي تر هغو چې رسیدلي شکایت OAH خبر کړي او هغه نور لوری په لیکل کښې د 15 ورځو په لړ کښې ورسته له هغه چې شکایت تر لاسه کړې خبر کړي، چې ترلاسه کونکي لوری باورمند دی چې د قانوني پروسې شکایت د منځپانګې د اړتیاوو سره سمون نه خوري.د کمښت د ۵ ورځو دننه د اطلاع د ترلاسه کولو نه وروسته، OAH به ټاکي چې ایا د قانوني پروسې شکایت د منځپانګې د اړتیاوو سمون خوري او په چټک توګه به ټولې لوروته په لیکل کښې اطلاع ورکوي.
یو لوری کولای شي چې د قانوني پروسې شکایت بدل کړی به هغه صورت کښې چې د مقابل لوری په لیکل کښې موافقه وی او فرصت ورکړل شوي وي چې خپله ستونزه د ستونزو د هواره ولو مرکې له لاری حل کړی وي څنګه چې لاندي په نښه شوي دي: اویاهم OAH د قانوني پروسې د ویناوو د استماع د دایریدلو نه ۵ ورځې نه ورها خواته نه وی اجازه ورکړي.د ستونزو د هواره ولو مرکه او د قانوني پروسې د ویناوو د استماع ویش مهال به بیا پیل شي، کله چې بدل شوي قانوني پروسې شکایت درج شي.

## د ماشومانو حالت د پروسې په جريان کې:

د اداري او ياهم حقوقي پروسې د ځنډ په جريان کې(پرته له هغه چې د ډيسپلين په برخه کې وړاندې شوی دی)، غير له هغه چې پلاراومور او عامه اجنسی پرې بل ډول موافقه وکړي،ماشوم بايد خپل يا خپلې لومړني ښوونې او روزنې کې پاتې شي.که چيرې په ياد پروسه کې د لومړني خاص ښوونې او روزنې چوپړتياوو غوښتنه شوې وي، نو ماشوم بايد دغه چوپړتياوې چې له شخړو سره مخامخ نه وي ترلاسه کړي.[34] که چيرې په پروسې کې د ماشوم لپاره په عامه ښوونځې کې وارترمخه د داخلې مخکنې غوښتنه شوې وو، تر هغه چې پروسه پای ته رسيږي د ماشوم او دهغه د مور او پلار په رضايت سره، ياده غوښتنه بايد په عامه پروګرام کې شامل شي.که چيرته د ALJ پريکړه د وختې خاص ښوونې او روزنې او د ښوونې ځای پرځای کيدل د بدلولو پر باب د پلار او مور سره په موافقت کې وي او مناسب وي. نو ياد ځای پر ځای کيدل د وروسته غوښتنې د ځنډ په جريان کې به د ماشوم اوسنی ځای پرځای کول ګرځي.

په دی حال، که چيرې په شکايت کې د لومړنی چوپړتياوو غوښتنه په دغه پړاو کې چې ماشوم د C برخې (ISFP) د قانون نه د B برخې (IEP) ته د انتقاليدو په بهير کې وی او د C برخې نور وړنه وي ولې چې ماشوم نور د درې کلو شوي دی، نو عامه اجنسی نور د C برخې چوپړتياوو چې تر اوسه ماشوم تر لاسه کول مکلفيت نلري. که چيرته ماشوم د ځانګړوو ښوونوو او نوراړوند چوپړتياوو ته وړ وپيژندل شو او پلار او مورد ځانګړو ښوونو او اړوند چوپړتياوو لومړنې شرايطو سره د (b) 300.300 له مخې،رضايت درلود، نو عامه اجنسی د ځانګړو ښوونوو او نور اړوند چوپړتياوو هغه چې د عامه اجنسی او پلاراومورسره په شخړو کې نه وی په وړاندې کولو، مکلف دی. [35]

## د ستونزو د حل پروسه:

د پلاراومور د قانونې پروسې نه د شکايتو د ترلاسه کولو په ۱۵ ورځو کې د ننه، او مخکې ترهغه نه چې د قانونی پروسې استماع پيل شي، عامه اجنسی بايد د پلاراومور او د ځانګړې شوی کورنۍ چوپړتياوو پلان (IFSP) ډله او ياهم د ځانګړې شوی ښونيز پروګرام (IEP) ډلې غړې ياهم غړو سره، هغه چې د پلاراومور لخوا د قانونی پروسې نه د شکايتو په نښه شوی حقايقوپه برخه کې ځانګړې پوهه لرې مرکه ونيسی.

غونډه:

- بايد د عامه اجنسی استازی شامل وی هغه چې د عامه اجنسی په استازيتوب د پريکړې نيولو واک ولری: او
- د عامه اجنسی په استازيتوب د څارنوال شامل نکړې ترڅو چې پلار او مور څارنوال نه وی راوستې.

د IFSP او ياهم IEP ډلې اړوند غړی د پلاراومور او د عامه اجنسی له لوری په مرکې د ګډون په موخه ټاکل کيږی.د مرکې موخه د پلاراومور لخوا د قانونې پروسې نه د شوی شکايت د هغوی له لوری د بحث لپاره ده، او هغه حقايق چې د شکايت اساس جوړه وی، چې تر څو عامه اجنسی د شخړو د هواره ولو لپاره فرصت ولری.

د ستونزو د حل مرکه اړين نه ده که چيرې:

- پلاراومور او د عامه اجنسی په ليکل کښې د جلسې منحل کولو پرسر هوکړه وکړي.
- پلاراومور او عامه اجنسی د مينځګړتوب د ازمويلو پر سر هوکړه وکړی: اوياهم
- عامه اجنسی د قانونی پروسې نه شکايت پيل کړی وی.

که عامه اجنسی د قانونی پروسې نه د شکايت ستونزه د شکايت د ترلاسه کولو په 30 ورځو کې دننه د پلاراومور په رضايت حل نکړي، نو کيدای شی چې د قانونی پروسې وېناوی استماع ترسره شی.

د نهايې پريکړې 45 ورځنې مهال ويش د ستوزو دهواره ولو د ۳۰ ورځو په پای کې پيليږی، غيرله دی چې په يو له لاندنې حالت کې چې د۳۰ کليز ورځو د ستونزو د حل په موده کې د سمون او بل د ګړندی شوی مهال ويش په برخه کې تطبيق کيږی.

---

[34] 34 CFR § 303.430(e)(2).

[35] 34 CFR § 300.518(c).

## د 30 کلیز ورځو دستنزو د حل په موده کی سمون:

په استثنا د هغې چی کله والدین او د عامه اجنسی د ستنزو د حل پروسه وځنډه وی، د ستنزو د حل پروسه منحل کړی، اویاهم د مینځګړیتوب نه کار واخلی، د والدینو د ستنزو د حل مرکی ته په ګډون کی پاتی راتلل د ستنزو د حل پروسه کی او دقانونی پروسی د ویناوو د استماع پروسه تر بلی مرکی پوری د ځنډ لامل ګرځی.

که له منطقی هڅو او د دغو هڅو چارو د مستند کولو وروسته، د عامه اجنسی لاهم ونتوانید د والدین ګډون د ستنزو د حل پروسی ته برابرکړی. د عامه اجنسی کولای شی د ستنزو د هواره ولو د پروسی ۳۰ ورځو په پای کی د ALG نه د دغی قانونی پروسی د لغوی غوښتنه وکړی. د عامه اجنسی د هڅو اسناد کی باید ددوی د مکان او زمان د ترتیب په هکله د کوښښونو د دوه اړخیز موافقی رکارډ هم موجود وی. لکه:

- د تیلی فونی اړیکی نیول شویو اویاهم د هڅو د او د هغو اړیکو نتایج باید په تفصیلی ډول رکارډ وی.
- والدینو ته لیږل شویو استعلامونو او په هغه کوم تر لاسه شوی ځوابونه: او
- د والدینو کور او یاهم د کار ځای ته د شوي لیدنو او د هغه لیدنو د نتایجو تفصیلی رکارډ.

که چیری عامه اجنسی د والدین د قانونی پروسی نه د شکایت د اطلاع د رسیدو نه په ۱۵ ورځو کی د ننه د پروسی د هواره ولو مرکه ونه نیسی اویاهم د ستنزو د هواره ولو پروسی کی ګډون ونکړی، نو بیا والدین کولای شی چی د ویناوو د استماع بهیرد پیل غوښتنه وکړی او پریکړه به د ۴۵ کلیز ورځو دننه کی صادر شی.

که چیری والدین او عامه اجنسی په لیکل کی د ستنزو د هواره ولو د پروسی د مرکی پر لغوي باندی خپلمنځی موافقه وکړی، نو بیا د قانونی پروسی د استماع بهیرد ۴۵ ورځو مهال ویش به په راتلونکې ورځ باندی پیل شی.

وروسته د ستنزو د هواره ولو مرکه اویاهم د مینځګړیتوب پیل نه او د ستنزو د هواره ولو د ۳۰ ورځو مودی نه مخکې، که والدین او عامه اجنسی په لیکل کی د موافقه د نه کیدلو امکاناتو پرسرهوکړه وکړي، نو بیا به د قانونی پروسی د استماع بهیرد ۴۵ ورځو مهال ویش به په راتلونکې ورځ باندی پیل شی.

که چیری والدین او عامه اجنسی د مینځګړیتوب د کاره ولو پر سر هوکړه وکړی، د ستونزو د هواره ولو د ۳۰ ورځو مودی په پای کې، درواړه لوري کولای شي د مینځګړیتوب پروسی د دوام پر سر هوکړه وکړی ترڅو چی دواړه لوری یوی موافقی سره ورسیږی.خوبیا که هر یو لوری والدین او یاهم عامه اجنسی د مینځګړیتوب د پروسی نه وتل غواړی، نو بیا به د قانونی پروسی د استماع بهیرد ۴۵ ورځو مهال ویش به په راتلونکې ورځ باندی پیل شی.

## د ستونزو د هواره ولو د جوړجاړی هوکړه لیک:

که چیری د شخړو هواره ول د ستنزو د حل مرکی ته ورسیږی، والدین او عامه اجنسی باید یو لیکل شوی، قانونی پابند هوکړه لیک ته ور داخل شی چی هغه :[36]

- د والدین او دعامه اجنسی با صلاحیت استازی چی هغه وکولای شی د عامه اجنسی په استازیتوب هوکړه لیک ترسره کړی باید امضاء شی: او
- په هربل د قضاوت وړ ایالتی محکمی کښی د تطبیق وړ وی ( ایالتی محکمه چی د دغه وړ قضیی د استماع صلاحیت ولری) او یاهم د فدرالی ولسوالی محکمه.

که والدین او عامه اجنسی د ستنزو د هواره ولو د مرکی په پای کی کومې هوکړي ته سره رسیږی. هر یو لوری کولای شي د ۳ کاری ورځو په لړ کي هوکړه لیک باطل کړي.

## د قانونی پروسی استماع:

والدین اویاهم د عامه اجنسی هغه چی په شخړه کښی ښکیل دی کله چی د قانونی پروسی شکایت درج کوی نو د بی طرفه استماع

[36] 34 CFR § 300.510(d).

قانوني پروسې فرصت په لاس کې لري. والدین اویاهم عامه اجنسی د ادعا شوي عمل هغه چې د قانوني پروسې نه د شکایت اساس جوړه وی، والدین او یاهم عامه اجنسی د دغې جریان د 2 کالو په دننه کې باید خپل د ویناوو د استماعغوښتنه وکړی. د دوو کلونو نه په استثنا کښې د واقع کیدل یوازینې اړتیا دا دی: (1) که چیری والدین د قانوني پروسې شکایت د قضیې د درج کولو نه د LEA لخوا نه د ځینی ځانګړی ناسموځرګندونو په ترځ کښې چې هغه دا چې د یاد شکایت اساس جوړه ونکي ستونزه هواره شوي ده او منع شوي وي، اویاهم (2) والدین د قانوني پروسې شکایت د درج کولو نه د LEA لخوا والدین ته د اړوند معلومات په نه تسلیمه ولو سره مانع ګرځیدلی وي.

## د اداری قانون قاضی (ALJ):

- د اداری ویناوو د استماع د دفتر مامور دي، نه ده MSDE:
- په شخصی او په مسلکی ډول خپلې ګټې نلری هغه چې د دوی د ویناوو د استماع د موخو سره په ټکر کښې واقع کیږی.
- پوه شخصیت او د IDEA د احکامو باندي پوه، د IDEA په اړوند د ایالتی او فدرالی قوانینو باندی پوه، د IDEA د قوانینو په ژباوو باندی پوه: او
- او ویناوو د استماع د دایر ولو پوه او وړتیا ولری، پریکړه ولیکی او ونیسي، په بنیادی قانوني کړنو باندی په مناسب او دوامداره توګه پوه وي.
- که کوم شخص په بل ډول باندی د ویناوو د استماع ته وړ وپیژندل شی، نو نوموړی شخص یوازی د MSDE مامور ندی ولی چې دی/دا د MSDE لخوا د ویناوو د استماع افسر په توګه ورته معاش ورکول کیږی.[37]
- MSDEبه د هغو اشخاصو نوم لړ له ځان سره لري هغوی چې د ویناوو د استماع د افسر په توګه دنده تر سره کړی وي، د هغه هر یو شخص د وړتیاوو بیانیه شامل وي. یاد معلومات د OAH په ویب پاڼه کی موجود دي.[38]

## د قانوني پروسې شکایت موضوع:

لوری ( والدین او عامه اداره) هغوی چې د قانوني پروسې شکایت درج کوي، د قانوني پروسې شکایت د ویناوو د استماع پر مهال د بل مساله را پاڅه ولو اجازه نلری، ترڅو که بل لوری موافقه ورسره وکړی.

## د ویناوو د استماع حقوق:

هر یو لوری په هرډول قانوني پروسې د استماع پروسه ( د IDEA انضباطی پروسه د ویناوو د استماع په شمول) دغه حق لری:

- د خپل ځان په استازیتوب او یاهم د ځارنوال په استازیتوب د ایالتی حکومت ماده شمیره (9-1607.1). د ماری لینډ کوډ تشریح په اساس وکړی.
- د وکیل او یاهم داسی کس چې د ماشومانو د معلولیت په برخه کې ځانګړي پوهه او ټرینیګ ولری سره د مشورو سره مل ووسي.
- مخامخ شی اوشواهد وړاندي کړی، بیاځلي تحقیق، او د شاهدینو حاضری تر لاسه کړی.
- دهغو شواهدو د معرفي او افشا کولو نه د ویناوو داستماع په جریان کې ډډه وکړی کوم چې د ویناوو داستماع نه د ۵ کاری ورځې نه مخکې د استماع ته نه وی وړاندی شوي.
- لیکل شوي، اویاهم د والدین په غوراوي، بریښنایي، د ویناوو داستماع د هر توری ریکارډ ترلاسه کړی.
- لیکل شوي، اویاهم د والدین په غوراوي، د پریکړو او حقایقو بریښنایي لاسته راوړنې تر لاسه کړي.

## د اضافي معلوماتو افشا کول:

حداقل 5 کاری ورځې د ویناوو داستماع نه مخکې، والدین او عامه اجنسی باید هر هغه ارزوني چې په همغې تاریخ تکمیل شوي وی

[37] 34 CFR § 303.443(c)(2); 34 CFR § 300.511(c)(1-2).
[38] 34 CFR § 303.443(c)(3); 34 CFR § 300.511(c)(3).

او هر هغه وړاندیزونه چې د دغې ارزونې پر اساس د ویناوو استماع په ورځ کښې بیانیږی افشاء کړي. ALJ کولای شی هغه ارزونې او وړاندیزونه چې ده اړتیاوو سره په تطابق کښې نه وی کوم چې د یوې لوري په رضایت نه وی د هغه د معرفۍ کولو نه ډډه وکړی.

## د والدین حقوق:

والدین حق لري چې:

- ماشوم حاضر کړي:
- د ویناوو مراسم د عامه په مخ خلاص کړی: او
- د ویناوو د استماع ریکارډ، د حقایقو لاسته راوړنې، او په هرحالت کښې هغه پریکړې چې تاسو وړاندې شوی وی ځان سره ولري.

## د ویناوو د استماع پریکړې:

د ALJ پریکړه چې ایا ماشوم مناسب وړیا عامه تعلیم (FAPE) ترلاسه کړي دی باید بنسټیز وي.د پروسیجر نه سرغړه ونې د تورنیدو په حالت کې، ALJ کیدای شی د ماشوم د وړیا عامه تعلیم (FAPE)د نه تر لاسه کول وموندې، یوازی د پروسیجر د لیږوالې په صورت کښې:

- د ماشوم د عامه تعلیم (FAPE) د حق په برخه کښې مداخله شوي وي.
- د والدین د خپل ماشوم د (FAPE) د پریکړې نیولو د ګډون په فرصت کښې په پراخه ډول لاسوهنه کول: اویاهم
- د تعلیمی ګټو د محرومیت لامل ګرزیدلې وي.

هیڅ یو له یاد شوي احکامونه د ALJ د حکم مخه نشي نیولې چې عامه اجنسی دی باید د IDEA د (34 CFR 300.500 تر 300.536) فدرالی قوانینو B برخی پروسیجرد ساتنی د برخي اطاعت وکړی.

د ALJ پریکړه د ماشوم په باب باید بنسټیز وی چې ایا ماشوم په مناسب ډول تشخیص شوی، ارزول شوی، اویاهم ځای پر ځای شوی، اویاهم ماشوم ته لومړنې ځانګړي ښوونیز او روزنیز چوپړتیاوی ورکړل شوي وو. د پروسیجر نه د سرغړه ونې د تورنیدو په حالت کې، ALJ کیدای شی موندی چې ماشوم په مناسب ډول نه وو تشخیص شوي، ارزول شوي، ځای پر ځای شوي، او یاهم ورته لومړنې ځانګړي ښوونیز او روزنیز چوپړتیاوي نه وی وړاندې شوي یوازې د پروسیجر د لیږوالې په صورت کښې:

- د ماشوم حق د تشخیص، ارزونې، او ځای پر ځای کیدلو او یاهم د لومړنې ځانګړي ښوونیز او روزنیز چوپړتیاوو په برخه کښې ماشوم او د هغه کورنې له ځنډ سره مخامخ کړل شوي وی:
- د ماشوم د تشخیص، ارزونې، ځای پرځای کولو، او یاهم د لومړنې ځانګړي ښوونیز او روزنیز چوپړتیاوو د پریکړې نیولو په برخه کښې د هغه د والدین د پریکړې نیولو د ګډون په فرصت کښې په پراخه ډول ځنډه ول شوي وي: اویاهم
- د تعلیمی او پراختیایي ګټو د محرومیت لامل ګرزیدلی وي.

## بیل قانوني پروسی شکایت:

د IDEA د پروسیجرد ساتنې په برخه کښې هیڅ داسی برخه والدین له بیل موضوع لرونکې بیل قانونی پروسی شکایت د درج کولو نه نه منع کوي.

## د استماع مهال ویش او اسانتیاوي:

د ستونزو د هواره ولو مرکه دی د 30 کلیز ورځو مودی د پای ته د رسیدلو نه او د هغه د 45 کلیز ورځو نه وروسته نه وي.اویاهم څه ډول چې د 30 *کلیز ورځو د ستونزو د حل په موده کې د سمون* خو د نه ده 45 کلیز ورځو سم شوی وخت د مودی په پای کښې:

- د استماع ته نهايي پريکړي رسيدلی دی: او
- د پريکړي کاپي هر يو لوری ته ليږل شوي وي.

ALJ کيدای شي د هر يو لوری په غوښتنه د 45 کليز ورځو نه وړاندي مشخص ځنډ په وخت کښی وړاندی کړي. هر استماع بايد والدين او ماشوم ته د هغوی په مناسب او وخت او مکان باندی بايد داير شي.

## ګړندي شوي قانونی پروسي د شکايت استماع (يوازی IEP):

عامه اجنسی مکلف دي چی ګړندي شوي قانوني پروسې د شکايت د استماع ترتيب کړی هغه وخت چی د معلول ماشوم په استازيتوب د قانونی پروسې شکايت درج شي، په دغه اړه:

- معلول ماشوم چی تر اوسه ښونځی ته ندی داخل او حاضر شوي:
- د معلول ماشوم په موقت بديل تعليمی ځای کښی ځای پر ځای کول: اوياهم
- د څرګندتيا هوډ

قانوني استماع بايد د شکايت کولو د نيټي څخه د 20 ښوونځي ورځو کې واقع شي. ALG بايد د استماع وروسته د 10 ښوونځي په ورځو کې پريکړه وکړي. د شخړي د حل ناسته بايد د تقلبي پروسې د شکاياتو ترلاسه کولو وروسته په اوه (7) ورځو کې واقع شي او قانوني استماع ممکن مخ ته لاړ شي که چيرې موضوع د ټاکل شوې پروسې شکايت ترلاسه کولو په 15 ورځو کې د دواړو اړخونو رضايت سره حل نه شي.

## د استماع پريکړې:

د هرډول پيژندل شوي معلوماتو له حذف کولو وروسته، عامه اداره مسؤليت لري چې د موندنو او پريکړو ليږلو ته د دولت مشاورتي هيئت ته وسپاري او همدارنګه بايد دا موندنې او پريکړې خلکو ته چمتو کړي.[39]

## د استماع په اړه د پريکړې نهايی کول:

د ALJ پريکړه وروستۍ ده مګر دا چې د والدين يا عامه اداري لخوا بل ډول ادعا وشي. هرهغه اړخ چې د موندنو او پريکړو څخه راضی نه وي حق لري چې د قانوني استماع کې وړاندې شوي شکايت ته په درناوي سره مدني عمل وکړي.

## استيناف:

د استماع هر اړخ ته چې د موندنو او پريکړې سره موافقه نلري حق لري چې د قضايي محکمې په هرډول محکمو يا د متحده ايالاتو د ناحيو په محکمه کې د مدني عمل په کولو سره د استيناف غوښتنه وکړي پرته له دې چې د جنجال مقدار ته پام وکړي کولی شي په 120 ورځو کې د ALJ د پريکړې نيټه څخه وروسته دا کار ترسره کړي.

په هر مدني عمل کې، محکمه به:

- د اداري اجرااتو ريکارډونه (سوابق) ترلاسه کړئ؛
- د مور او پلار په غوښتنه يا د عامه اداري په غوښتنه اضافي شواهد واورئ؛
- خپله پريکړه د شواهدو پر بنسټ کړئ: او
- هغه امتياز ورکړئ چې محکمه يې مناسب ګڼي.

(39) 34 CFR § 300.513(d).

د IDEA په B برخه کې هیڅ شی د متحده ایالاتو د اساسي قانون موجود حقونه، کړنلارو، او د خساري جبران به محدود نه کړي، د 1990 کال د امریکا د معلولینو قانون، د 1973 بیا رغوني قانون (504 برخه)، یا نور فدرالي قوانین چي د معلولیت لرونکي ماشومانو د حقونو ساتنه کوي. پرته له دي چي ددي قوانینو لاندي د مدني عمل ثبتولو دمخه چي د خساري جبران غوښتنه کوي چي د IDEA په B برخي که هم شتون لري، د قانوني پروسي طرزالعمل چي پورته ذکر شوي باید په هماغه کچه ترسره شي لکه څنګه چي د IDEA د B برخه لاندې والدینو یا عامه اداري اړین دي دا ادعا ثبت کړي. دا پدې مانا ده چې والدین ممکن د نورو قوانینو لاندې خساري د جبران حق ولري چې د IDEA لاندې پوښښ شوي وي، مګر په عموم کې د دې نورو قوانینو سره سم د خساري جبران ترلاسه کولو لپاره والدین باید لومړی د IDEA لاندې موجود اداري د خساري جبران ددي دمخه چي په مستقیم ډول محکمي ته لاړ شي (د مثال په توګه د پروسې شکایت کول، د شخړي د حل او فصل ناسته، او د بې طرفه استماع کړنلاري) وکاروي.

## د وکیل حق الزحمه

**<u>IEP او IFSP</u>**

34 C.F.R. § 300.517

د IDEA تر چوکاټ لاندی هر ډول فعالیت لپاره محکمه د وکیل حق الزحمه هغه چا ته ورکوی چی:

- د هغه ماشوم کورنی یا سرپرست ته چی معزورتیا ولری او ورسره مدعی وی
- هغه ایم ایس ډی ای او یا کوم بله ملکی اداره چی د مدعی د کورنی د وکیل په خلاف هغه کورنی چی عریضه یی کړی وی کومه ادعا چی په حقیقت ولاړه نه وی یا منطقی بنه ونلری او یا هم بی بنیاده وی سره د هغه کورنی لپا ره هم دی چی و قضیی د لنډیز او یا د ترلو په هڅه کی بوخت وی هغه ادعا چی په وضاحت سره یا په حقیقت ولاړ نه یا منطقی بنه ونلری او یا هم بی بنیاده وی
- هغه ګټونکی اړخ که ام ایس ډی ای وی او یا کومه بله ورته ملکی اداری ته چی مدعی علیه وی د کورنی د وکیل او یا هم د کورنی په مقابل کی کومه کورنی چی یا یی عریضه او یا د عریضی وروستنی هڅی یی ناوړی لاملونه ترشا ولری دمثال په توګه لکه د مقابل لوری د ځورول دپاره او یا هم د بی موجب ضیا د و خت په موخه او یا هم د قضیی لنډیز ته د رسیدو لپاره ګاللی مصارفو د لوړونی په موخه

په هغی سیمی کی چی داقضیه راپورته شوی ده حق الزحمه هم باید چی په هغی سیمی کی د ورته لګښتونه سره سم په پام کی ونیول شی ټاکل شوی حق الزحمه باید د بونس او بل هر ډول اضافی لګښتونو څخه ځانته وی هیڅ لګښت د معزور ماشوم د قضیی د مخ ته وړلو په موخه چی لګول کیږی لکه حقوق او د محکمی لګښتونه باید د ای ډی ای د بسپنه څخه وانه اخستل شی

په لاندنی شرایطو کی حق الزحمه نه ورکول کیږی:

- د هر IEPاو IESP لپاره چی دغی ناستی د قضا د فیصلی په اساس وی او یا هم محکمی ته د وړاندی کیدو د ناستی
- د عریضی د وړاندی کولو نه تر مخه د جوړجاړی لپاره
- د پریکړی د ناستی لپاره
- د هر هغه خدمتنو لپاره چی کورنی په تحریری جوړجاړی د ناستی لپاره کله چی:
  - دغه وړاندیز د 68 قانون د مقرری په اساس وی د فدرالی ملکی قوانینونو ترچوکات لاندی او یا دکومی اداری پرمختګونه لپاره لس ورځی مخکی لدی چی شروع شی
  - که چیری دغه وړاندیز په لسو ورځو کی منظور شی
  - که چیری محکمی ته دا ثابت شی چی کورنی ترلاسه کړی سهولت د جوړجاړی نه ګټور ندی

  حق الزحمه ا و نور لګښتونه به هغه وخت منظور شی چی کورنی ته د جوړجاړی وړاندیز ځوابولو تصمیم دمنلو وړ وی

په لاندنی شرایطو کی د حق الزحمه د کمښت امکانات شته:

- کورنی یا د کورنی وکیل د شخړی د جوړجاړی سلسله په بی اساسه ډوله وغځوی
- په سیمی کی د عام ارزښت نه په پورته کچه د ساعت په اساس د حق الزحمه لوړول د وکیل د تجربی اعتبار د توپیر په پام کی نیولو سره
- د قضیی د ډول په پام کی نیولو سره وړاندی شوی خدمتونه او حق الزحمه په بی اساسه ډول ډیر وی
- محکمی ته د عرض وړاندوینه داجازی په مهال د وکیل له خوا د نا کافی معلومومات وړاندی کول

حق الزحمه به کم نشي که

- عامه ادارې دغه د شخړي حل او فصل پریکړه اوړده کړه؛ یا
- د محافظتي پروسي شرایط ځخه سرغړونه وه.

ځکه چې د والدینو حق د وکیلانو د حق الزحمه بیرته اخیستل په IDEA کې ټاکل شوي ځینې شرایطو پوره کولو پورې اړه لري، والدین باید پدې موضوع د خپلو وکیلانو سره بحث وکړي .

## ضمیمه:
# د IDEA د شخړو د حل پروسې د پرتلي چارټ

| | منځګړیتوب | قانوني شکایت | د پریکړې پروسه | د ایالت شکایتونه |
|---|---|---|---|---|
| څوک کولی شي پروسه پیل کړي؟ | والدین یا عامه اداره، مګر باید د دواړو لپاره داوطلبانه وي | والدین یا عامه اداره | عامه اداره د حل او فصل د پریکړې لپاره د قانوني شکایت ترلاسه کولو وروسته د پریکړې ناستې مهالویش ټاکي تر هغه چې دواړه خواوې انصراف وکړي یا منځګړیتوب ونه مني | هر فرد یا سازمان چې پکې شامل دي د دولت نه بهر |
| د دوسیه کولو لپاره وخت محدودیت څومره دی؟ | هیڅ نه دی مشخص شوی | هر یو اړخ باید 2 کاله مخکې محدود تمویل[1] سره ستونزه باندي پوهیدلي یا باید پیژندلي وي[1] | د والدین د قانوني شکایت لخوا تحریک شوي | د ادعا شوي سرغړونې نیټې څخه 1 کال |
| کومې ستونزې حل کیدی شي؟ | د 300 برخې لاندې هر مسله، پدې کې هغه موضوعات شامل دي چې قانوني شکایت کولو دمخه راپورته کیږي (استثنا شتون لري[2]) | د پیژندنې، ارزونې یا تعلیمي موقعیت یا د وړیا مناسب عامه زده کړې چمتو کولو پورې اړوند کومه مسله (استثناوې شتون لري) | د ورته مسلو په څیر چې د والدین لخوا قانوني شکایت کې راپورته شوي | د IDEA 300 برخې یا B برخې څخه ادعا شوي سرغړونې |
| د مسلو حل لپاره مهال ویش څه شی دی؟ | هیڅ ندی مشخص شوی | د پریکړې مودې پای څخه 45 ورځې پورې غیر لدې چې مهال ویش په مشخص توګه غزول شوي[3، 4] نه وي | عامه اداره باید د والدینو د قانوني شکایت ترلاسه کولو وروسته په 15 ورځو کې د شخړې د حل ناسته ټاکي، پرته لدې چې دواړه خواوې په لیک کې موافقه وکړي چې انصراف کوي یا د منځګړیتوب کارولو ته موافقه کوي<br><br>د حل او فصل موده د والدینو لخوا د قانوني شکایت ترلاسه کولو ورسوته تر 30 ورځو پورې ده مګر دا چې دواړه خواوې بل ډول موافقه وکړي یا والدین یا عامه اداره د حل او فصل په ناستي کې برخه وانخلي یا عامه اداره د والدینو د قانوني شکایت ترلاسه کولو وروسته په 15 ورځو کې د حل او فصل ناسته ترسره نکړي.[3، 5، 6، 7] | د شکایت ترلاسه کولو وروسته په 60 ورځو کې مګر دا چې موده یې غزول شوي وي[8] |
| څوک دا مسلې حل کوي؟ | والدین او عامه اداره د منځګړي سره<br><br>پروسه داوطلبي ده او دواړه خواوې باید له هر یوه سره د پریکړې سره موافق وي | د استماع مامور / اداري قانون قاضي (ALJ) | والدین او عامه اداره<br><br>دواړه خواوې باید په هر ډول پریکړې موافقه وکړي | د مریلینډ د پوهنې ریاست |



د جنوري27 ، 2021 کې د اجرا وړ
آخري نسخه تصحیح شوی

[1]د وخت محدودیت والدین باندې نه پلي کیږي که چیرې د قانوني شکایت درج کولو څخه د والدینو مخنیوی شوی وي:

(1) د عامه اداري لخوا ځانګړي غلط تشریحات چې ګواکي د قانوني شکایت پر اساس يي ستونزه حل کړي. یا (2) د عامه اداري لخوا والدینو ته معلومات نه ورکول کوم چي د IDEA د 300 برخي لاندي ورته معلومات ورکول اړين وي ((f)34 C.F.R. §300.511).

[2]ورته استثناوي دا دي: عامه اداره ممکن قانوني شکایت ثبت نه کړي یا د والدین لخوا د ځانګړي زده کړي خدماتو لومړني چمتو کولو رضایت ردولو لپاره منځګړیتوب نه کاروي ((3)(b)34 C.F.R. §300.300)؛ عامه اداره ممکن قانوني شکایت ثبت نه کړي یا د والدین لخوا په خصوصي ښوونځي کي يو ماشوم د لومړني ارزونه يا بيا ارزونه رضایت ردولو لپاره منځګړیتوب نه کاروي (34

C.F.R. §300.300(c)(4)(i))؛

د والدینو حق د يو خصوصي ښوونځي ماشوم لپآره د قانوني شکایت ثبتول د عامه اداري لخوا د شرايطو پوره کولو کي پاتي راتلل له امله محدود کړي 34 C.F.R.) (§300.140؛ د د عامه اداري د عالي مسلکي ښوونکي چمتو کولو کي پاتې راتلل د قانوني شکايت لاندي کومه مسله نده، مګر يو ايالتي شکایت د پوهني د اداري سره ثبت کیدای شي.

[3]که د ډیسپلین پروسیجرونو په تعقیب د ګرندي استماع لپاره قانوني شکایت ثبت شي، یا ماشوم اوس مهال ښوونځی کې شامل شوی او ښوونځی ته نه ځي، د حل او فصل موده 15 تقويمي ورځي (د غونډې په 7 ورځو کې ترسره کيږي) ده. که چیرې مسله د دواړه خواوو په رضایت حل او فصل نشي، نو استماع بايد د استماع د غوښتل شوي نېټي 20 ښوونځي ورځو کې پیښ شي او د استماع وروسته بايد د ښوونځي په 10 ورځو کې پریکړه صادره شي. (34 C.F.R. §300.532(c) and COMAR 13A.05.01.15)

[4]د استماع مامور / ALJ ممکن د هر اړخ په غوښتنه وخت وغځوي. (34 C.F.R.

§300.516(c))

[5]مقررات د 30 ورځو حل او فصل مودې کې تعدیلاتو ته اجازه ورکوي. د قانوني استماع لپاره د 45 ورځو مهال ویش د لاندې پیښو یوه ورځ وروسته پیل کیږي: (1) دواړه خواوې موافقه کوي چې په لیکلي بڼه د پریکړې ناسته لغوه کړي؛ ()) وروسته له هغه چې د مینځګړیتوب یا پریکړه لیک غونډې پیل شي مګر د 30 ورځو مودې پای ته رسیدو دمخه، خواوې په لیک کې موافقه کوي چې هیڅ موافقه ممکنه نه ده؛ ()) که چیرې دواړه خواوې د 30 ورځو پریکړې مودې په پای کې منځګړیتوب ته دوام ورکولو لپاره په لیکلي توګه موافقه وکړي، مګر وروسته، والدین یا عامه اداره د مینځګړیتوب پروسې څخه وځي. (34 C.F.R. §300.510 (c))

[6]د حل او فصل په ناسته کې د برخه اخیستونکي والدیني پاتي راتلل د حل پروسې مهال ویش او قانوني استماع ځنډوي ترڅو چې ناسته ترسره کیږي. (34 C.F.R. §300.510(b)(3))

[7]که چیرې عامه اداره د والدینو د شکایت ترلاسه کولو وروسته په 15 ورځو کې د پریکړې ناسته ترسره نکړي یا د پریکړې په ناسته کې برخه وانخلي، والدین کولی شي د سیمه ایز محکمې مداخله وغواړي ترڅو د قانوني استماع مهال ویش پیل کړي (34 C.F.R. §300.510(b)(5)).

[8]د ایالتي شکایت د حل او فصل لپاره مهال ویش ممکن وغځول شي که چیرې استثنایي شرایط د یو ځانګړي شکایت په پام کې نیولو سره شتون ولري، یا والدین (یا فرد یا اداره، که د مینځګړیتوب یا د شخړې حل لپاره نورې متبادلې لارې، د دولت کړنلارو لاندې فرد یا سازمان لپاره شتون لري) او عامه اداره موافقه کوي چې په منځګړیتوب کې ښکیلتیا لپاره یا د شخړو هوارولو په نورو بدیل لارو چارو بوختیا لپاره وخت وغځوي، که چیرې په دولت کې شتون ولري (34 C.F.R. §300.152(b)(1))

[9]د MSDE شکایاتو کړنلاري عامه اداري ته فرصت چمتو کوي چي شکایت ته ځواب ووايي، پشمول د عامه اداري په اختیارکې، د شکایت حل کولو وړاندیز؛ او د والدین لپاره فرصت څوک چې شکایت ثبتوي او عامه اداره په داوطلبانه ډول منځګړیتوب کې ښکیل کړي (34

C.F.R. §300.152(a)(3))

په ځینو قضیو کې، شکایت کونکی او عامه اداره ممکن د دې مسلې حل کولو لپاره د MSDE اړتیا پرته شخړه حل کړي.

Maryland State Department of Education
Division of Early Intervention & Special Education
Services 200 West Baltimore Street
Baltimore, Maryland 21201
410-767-0249 (phone)
410-333-1571 (fax)
http://www.marylandpublicschools.org